# دڅلورو امامانو

## (ابو حنیفه، شافعي، مالك او احمد رحمة الله علیهم)

# عقیده

په پښتو ژبه

لیکنه

دکتور / محمد بن عبد الرحمن الخمیس

دچاپولو او خپرولو اداره

داسلامي چارو او اوقافو او دعوت او لارښوونې وزارت

سعودي عربستان

١٤٣٥ هـ

ح وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد ، ١٤٢٢هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

الحميس، محمد بن عبدالرحمن
اعتقاد الأئمة الأربعة.- الرياض.
١٤٨ ص ، ١٢ × ١٧ سم
ردمك: ٤ - ٣٨٧ - ٢٩ - ٩٩٦٠
(النص باللغة البشتو)
١- العقيدة الإسلامية ٢- الأئمة الأربع أ- العنوان
ديوي ٢٤٠ ٢٢/٣٤٦٤

رقم الإيداع: ٢٢/٣٤٦٤
ردمـك: ٤-٣٨٧-٢٩-٩٩٦٠

الطبعة الرابعة عشرة
١٤٣٥ هـ

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ۞ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾[(١)].

أما بعد:

ما یو پراخه بحث (څېړنه) د(اصول دین[(٢)] دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نظر کي) تر عنوان لاندي ددوکتورا دعلمي درجی دلاس ته راوړلو لپاره سر ته ورسوله، چي دهغي سریزي ددریو امامانو: مالك،

---

بي ډېر نارینه او ښځی خواره واره کړیدي، او له هغه خدای نه وویرېږی چي دهغه په نامه یو له بل نه سوال کوی، او دصلهء رحمي (خپلوی) له پریکولو نه وویرېږی، بیله شکه چي خدای ستاسو (پر ټولو اعمالو او حالاتو) څارونکی دی».

(١) دالاحزاب سورت، ٧٠-٧١ آیت، ترجمه: «ای مؤمنانو له خدای نه وویرېږی، او رشتیا خبره وواياست تر څو ستاسو اعمال اصلاح کړي، او گناهونه مو وبخښي، او څوك چي دخدای او رسول پیروي کوي بې شکه لویه کامیابي یي لاس ته راوړه».

(٢) اصول دین ودیني عقائدو ته ویلي کېږي، لکه په خدای او دهغه په صفاتو باندي ایمان لرل، او ملائکو او پیغمبرانو او آخرت باندي ایمان لرل، او داسي نور. (ژباړونکی)

شافعي، او احمد رحمه الله عليهم دعقيدي بيـــان هــم پــه ښنګ کښي نيــولی وه.

بعضي نيکو ورونو زمــــا څخــه وغوښـــتل چـــي ددغو دريو امامانو عقيـــده پـــه مســـتقل شـــکل ســـره وليکم، چي دا دی دځلـــورو واړو امامــــانو دعقيـــدي ديبان د کار دتکميل لپاره مي دامام ابـــو حنيفـــه عقيـــده هم دتوحيد، قضاء وقدر، ايمان، او صحابه وو پـــه بـــاره کي، او دهغه دريځ مي دعلــــم کــلام پــه اړه دځپـــل بحث له مقدمي نه خلاصه، او ددريو امامــــانو دعقيـــدي سره مي يو ځای وليکـــه.

له خدای ﷻ نه غواړم چــــي دغـــه عمـــل خـــاص دځپلي رضا لپاره وګرځوي، او موږ ټولو تــــه توفيـــق را په برخه کړي چــــي دقـــرآن دهدايـــاتو او دپيغمـــبر ﷺ دسنتو پيروي وکـــړو.

والله من وراء القصد، وهو حسبنا ونعـــم الوکيـــل.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العـــالمين.

محمد بن عبد الرحمن الخميس

## اول مبحث

## څلور واړه امامان (ابو حنیفه، مالك، شافعي او احمد رحمة الله علیهم) دایمان له مسئلي نه پرته، داصول دین دنورو ټولو مسائلو په هکله یو نظر لري:

دڅلورو امامانو: ابو حنیفه، مالك، شـــافعي، او احمـــد رحمة الله علیهم عقیده هماغه عقیـــده ده چـــي پـــه قـــرآن او حدیـــث کـــي بیـــان شـــوی، او داصحـــابو کرامـــو او تابعینـــو[1] عقیـــده ده.

او دخدای ﷻ په فضل سره ددغو امامـــانو پـــه مینـــځ کي ددین داصولو په هکله هیـــڅ ډول اختـــلاف نشـــته، او په خدای ﷻ او دهغه په صفاتو ایمـــان لـــرل، او دا چـــي قرآن دخدای ﷻ کلام دی او مخلوق نـــدی، او پـــه ایمـــان کي دزړه او دژبي تصدیـــق حتمـــي دی، پـــه ټولـــو دغـــو

---

(١) تابعین هغه کسانو ته ویل کیږي چي صحابهء کـــرام یـــي لیـــدلي وي خو پیغمبر ﷺ یي نه وي لیـــدلی، او دصحابـــه وو او دقـــرآن وسنت په طریقه باندي ثابت قدم پاته شـــوي وي. (ژبـــاړونکی)

مسائلو کي دوی ټولو یو نظر درلود، او دوی داهل کلام[(١)] ددلو لکه جهمیه[(٢)] او داسي نورو دلو، او کوم چي دیونان دفلسفي او اهل کلام دمذهبونو څخه متأثره وو، دهغوی (پر عقایدو باندي سخت) تنقید او تردید کاوه، لکه څنګه چي شیخ الاسلام ابن تیمیه وایي: «... او پر بندګانو باندي دخدای ﷻ درحمتونو څخه

---

(١) اهل کلام هغه کسانو ته ویل کیږي چي په دعقایدو په مسائلو کي دعلم کلام نه استفاده کوي.
او علم کلام هغه علم دی چي داسلامي عقایدو داثبات لپاره دمنطقي او فلسفي اصولو او بنسټونو نه استفاده کوي، او پدی برخه کي عقلي دلائل پر شرعي دلائلو (قرآن او حدیث) باندي مقدم بولي. (ژباړونکی)

(٢) جهمیه داهل سنت وجماعت دمخالفو دلو څخه یوه ډله ده چي دیهودو او مشرکینو او دفلسفي افکارو نه متأثر دي، او جهمیه دخدای ﷻ له صفاتو او نومونو، او په آخرت کي دخدای د لیدلو، او دقبر عذاب، او صراط نه انکار کوي، او وایي چي خدای ﷻ په هر ځای کي دی، او وایي چي قرآن مخلوق دی، ددی ډلي مؤسس جهم بن صفوان دی. (ژباړونکی)

نور- چي په امت کي دریښتني ژبي خاوندان وو، (هغوي) داهل کلام (دډلو) لکه جهمیه وو پر عقیده باندي نیوکي کولي، کومه عقیده چي دقرآن، ایمان، او دخدای ﷻ دصفاتو په باره کي درلوده، او دسلف صالح[1] پر دی عقیده باندي په اتفاق سره معتقد وو چي خدای ﷻ په آخرت کي لیدل کیږي، او قرآن دخدای ﷻ کلام دی، او مخلوق ندی، او په ایمان کي دزړه او ژبي تصدیق ضروري خبره ده..»[2].

او همدارنګه (ابن تیمیه) وایي: «تول مشهور امامان دخدای ﷻ صفات ثابتوي، او وایي: چي قرآن

---

(۱) سلف صالح هغه کسانو ته ویل کیږي چي داسلام په شروع په اولو دریو پیړیو کي یې ژوندکاوه او دقرآن او حدیث متابعت یې کاوه او بدعت یې منځ ته ندی راوری، او دا کسان عبارت دي له: صحابه وو، تابعینو، او تبع تابعین چي دصحابه وو او تابعینو پیروي یې کړی وي. (ژباړونکی)

(۲) کتاب الایمان صفحه ۳۵۰-۳۵۱، ددار الطباعة المحمدیة چاپ، دمحمد الهراس په تعلیق سره.

دخدای ﷻ کلام دی او مخلوق نه دی، او وايي: چې خدای ﷻ په آخرت کي ليدل کيږي. همدا دصحابه وو، او تابعينو، او (دپيغمبر ﷺ) داهل بيت، او نورو مذهب دی، (او همدارنګه) دمعتبرو امامانو لکه: مالك بن انس، ثوري، ليث بن سعد، اوزاعي، ابو حنيفه، شافعي او احمد مذهب هم همدا دی»[1].

او دشيخ الاسلام ابن تيميه څخه دشافعي دعقيدی په باره کي پوښتنه وشوه، په جواب کي يي وويل: «دشافعي ﷺ عقيدة دامت دسلف صالحو عقيده ده لکه: ثوري، اوزاعي، ابن مبارك، احمد بن حنبل، او اسحاق بن راهويه، او همدا دمعتبرو مشايخو لکه: فضيل بن عياض، ابو سليمان داراني، سهل بن عبد الله تستري، او نورو عقيده ده، ځکه چي ددی امامانو او ددوی په شان نورو (امامانو) په مينځ کي هيڅ ډول اختلاف

(۱) منهاج السنة ۲/۱۰۶.

ددین داصولو په باره کـــي وجودنلــري، او دابـــو حنیفـــه عقیده هم همدا ده، ځکه له کومه چـــي دده عقیـــده (مـــوږ ته) دتوحید او قضاء وقدر او نورو ورته مســـائلو پـــه بـــاره کي ثابته ده، نو هغه ددی تـــیرو علمـــاوو دعقیـــدی ســـره پوره سمون لري او ورســـره موافقـــه ده، او دصحابـــه وو او تابعینو هم همدا عقیده ده لکه څنـــګه چـــي پـــه قـــرآن او حدیث کي بیان شـــوي ده»[1].

او علامه صدیق حسن خان هـــم همـــدا نظـــر غـــوره کړیدی لکه څنګه چي وایـــي: «زمـــوږ مذهـــب او دســـلف صالح مذهب دادی چي په: اثبات بیله تشـــبیه او تنـــزیه بیلـــه تعطیل[2] باندي عقیده لرو، او همـــدا داســـلام دامامـــانو لکـــه:

(١) مجموع الفتـــاوی ٢٥٦/٥.

(٢) اثبات بیله تشبیه دی تـــه وایـــي: چـــي دخـــدای ﷻ لپـــاره دده دشان سره لایق صفات ثابت شي کوم چي پـــه قـــرآن او ســـنت کي راغلي وي، بیله دی چـــي هغـــه دمخلوقـــاتو دصفـــاتو ســـره مشابه کړو.

مالك، شافعي، ثوري، ابن المبارك، امام احمداو نورو ...مذهب دی، ځکه چي ددوی په مينځ کي هيڅ اختلاف پدی باره کي نشته، او دابو حنيفه هم همدا عقيده ده، ځکه کومه عقيده چي لده نه ثابته ده هغه ددی (تيرو) علماوو له عقيدی سره سمون لري، او دا هغه عقيده ده چي قرآن او حديث (دهغي) بيان کړيدی»[1].

او دادی موږ (په راتلونکي صفحاتو کي) دڅلورو واړو امامانو: ابو حنيفه، مالك، شافعي، او احمد رحمة الله عليهم داقوالو يوه برخه ددين داصولو دمسائلو په باره کي را نقلوو، او همدارنګه به ددوی موقف دعلم کلام په اړه (هم) بيان کړو.

---

او تنزيه بيله تعطيل دی ته وايي: چي خدای ﷻ له ټولو بدو او ناخوښه صفاتو نه پاك او مبرا وبولو، بي له دی نه چي نيك او ښه صفات ځني نفي کړو. (ژباړونکی)

(١) قطف الثمر ٤٧-٤٨ صفحه.

# دوهم مبحث

## دامام ابو حنيفه رحمة الله عليه عقيده:

### أ- دتوحيد په باره کي دامام ابو حنيفه اقوال:

اول: دتوحيد په باره کي دده عقيده، او دمشروع توسل (وسيله نيولو) بيان، او دنامشروع توسل (وسيله نيولو) بطلان:

(١) ابو حنيفه وايي: «هيڅ څا ته نه ښايي چي بيله خداى ﷻ نه بل څوك ددوعا وسيله وګرځوي، او کومه مشروع دوعا چي موږ ته په هغه امر شوي هغه ده چي دخداى ﷻ لدى قول څخه اخيستل شوى ده: ﴿وَلِلَّهِ الأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادعُوهُ بهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾[1] ..»[2].

---

(١) دالاعراف سورت، ١٨٠ آيت، ترجمه: «او خداى ﷻ لره نيك نومونه دي، نو په هغه باندي هغه (خداى ﷻ) وبولى او ورته دوعا وکړى، او هغه کسان چي دده په نومونو کي کوږوالى نه کار اخلي، هغوى ته به ژر دخپلو اعمالو سزا ورکړل شي».

(٢) الدر المختار مع حاشية ردالمحتار ٦/٣٩٦-٣٩٧.

(٢) او وايي: «مکروه ده چې څوك په دوعا کـــې ووايـــې: دفلاني شخص په حق، او يا ستا دنبيـــانو او رســـولانو په حق، او دبيـــت الله پـــه حـــق، او دمشـــعر حـــرام (مزدلفي) په (حق)، ستا څخه سوال کـــوم»[١].

(٣) او وايي: «هيڅ چا ته نه ښايي چې پـــه خپلـــه دوعـــا کې بيله خداى ﷻ نه بـــل څـــوك ددوعـــا وســـيله وګرځوي، او زما په نظر مکروه ده چـــې (پـــه خپلـــه دوعا کې) ووايي: ستا دعرش دعزت پـــه مقـــام[٢]، او

---

(١) شرح العقيدة الطحاويـــة ٢٣٤ صفحـــه، اواتحـــاف الســـادة المتقـــين ٢٨٥/٢، اوشرح الفقه الأكبر دعلي القاري تـــأليف ١٩٨ صفحـــه.

(٢) دامام ابو حنيفه او محمد بن الحسن (دده شاګرد) په نـــزد مكـــروه ده چې څوك په خپله دوعـــا کـــې ووايـــې: «اللـــهم إن أســـألك بمَعْقِد العِزِّ من عرشك»، (الهي زه ستا دعرش دعـــزت پـــه مقـــام باندې ستا څخه سوال کوم)، حکه چې کوم آيـــت يـــا حديـــث ددې په جواز کې ندى راغلى، خو ابو يوسف (دابـــو حنيفـــه بـــل شاګرد) هغـــه جائز بولي نظر پدى حديث چـــې وايـــې دپيغمـــبر ﷺ له دوعا څخه دا وه (چـــې ويـــل يـــې): «اللـــهم إني اســـألك بمعاقد العز من عرشك ومنتـــهى الرحمـــة مـــن كتـــابك».. او دا-

یا ستا دمخلوقاتو په حق (ستا څخه ســـوال کـــوم)»[1].

(٤) او وايي: «خدای ﷻ دمخلوقـــاتو پـــه صفـــاتو نشـــي موصوف کيـــدلای، او غضـــب او رضـــا دده لـــه

---

حديث بيهقي په الدعوات الكبيرة -لكه څنـــگه چـــي پـــه بنايـــه ۳۸۲/۹، او نصب الراية ۲۷۲/٤ كـــي راغلـــي- ذكـــر كـــړی دی، ولي دهغه په سندكي دری داسي علتونه شـــته چـــي هغـــه ضعيفوي، او هغـــه دادي:

١- داودبن ابي عاصم دابن مسعود څخه حديث نـــدی اوريـــدلی.

٢- عبدالملك بن جريج مُدلّس دی او اِرسال كـــوي. (مُدلّـــس هغـــه دی چي له بل چا نه هغه حديـــث روايـــت كـــړي چـــي ځـــني اوريدلی يي نه وي او اوريدونكي ته داسي وبښيي چـــي گواكـــي له هغه نه يي اوريدلی دی، او يا دا چي خپـــل شـــيخ پـــه خپـــل مشهور نامه ذكر نكـــري).

٣- عمر بن هارون په درواغو ويلو متهم دی، نـــو ځكـــه خـــو ابـــن الجوزي -لكه څنگه چـــي پـــه البنايـــه ۳۸۲/۹ كـــي راغلـــي- وايي: «دا حديث بي له شكه موضوع حديـــث دی، لكـــه څنـــگه چي دهغه له سند نه معلومـــه ده».

تهذيب التـــــهذيب ۱۸۹/۳، ٤٠٥/٦، ٥٠١/٧، اوتقريـــب التهذيب ٥٢٠/١ دي وكتل شـــي.

(١) التوسل والوسيلة ۸۲ صفحه، اوشرح الفقه الاكـــبر ۱۹۸ صفحـــه.

صفتونو نــه دوه بــلا كيــف[1] صفتونــه دي، او دا داهل سنت وجماعت قـــول دی، او هغــه (خـــدای ﷻ) په غضب كــيږی، او راضـــي كــيږي، او نــه بنايي چي وويل شــي: چـــي غضــب دده عـــذاب دی، او رضــا دده ثــواب دی، او خــدای ﷻ پــه هغه څه موصوفوو چي ده خپـــل ځـــان پــه هغــه موصوف كــړی دی: هغــه يــو دی، بي پــروا دی (چا ته محتاج نه دی)، نه يـــي څـــوك زيــږولي دي، او نه له چا نه زيږيدلی دی، هيــڅ څــوك هغــه تــه ورته ندی، ژونـــــدی دی، قـــادر دی، اوريدونكـــی دی، ليدونكـــی دی، عـــــالم دی، دخـــــدای ﷻ لاسونه دهغوی پـــر لاســـونو ســـربيره دي، (او دده لاسونه) دمخلوقاتو دلاسونو په شـــان نـــدي، او مـــخ

---

(۱) بلا كيـــف څخـــه مـــراد دادی چـــي ددی صفـــاتو كيفيـــت او څرنگوالی موږ ته ندی معلوم. (ژبـــاړونكی)

(وجه) بې دمخلوقاتو دمخونو په شان نــــدى»[١].

(٥) او وايي: «او خداى ﷻ لاس، مــخ، او نفــس لــري، لكه څنګه چي په قرآن كي خداى ﷻ ذكــــر كــړي دي، نو مخ او لاس او نفــس چــي خــداى ﷻ پــه قرآن كي ذكر كړيدي، هغه دده بلا كيــــف صفتونــه دي، او نه ښايي وويل شـــي: چــي لاس دده قــدرت او يا نعمت دى، ځكه پــدى خــبره كــي دخــداى ﷻ د(يوه) صفــت (يعــني دلاس دصفــت) بطــلان دى، او دا دقدريه وو او معتزلــه وو[٢] قــول دى»[٣].

(٦) او وايي: «وهيچ چا ته نه ښــايي چــي دخــداى ﷻ

---

(١) الفقه الابسط ٥٦ صفحــه.

(٢) قدريه او معتزله هغو كسانو ته ويل كيږي چـــي داهــل ســنت او جماعت پر خلاف دخداى ﷻ ازلي صفــات نفــي كــوي او نــه بي مني، او په دى عقيده دي چي خــداى ﷻ دانســان دافعــالو خالق ندى، بلكه خپلــه انســان دخپلــو افعــالو خــالق دى، او عقيده لري چي خداى ﷻ په آخرت كي نـــه ليــدل كــيږي، او دخداى ﷻ علم په ازل كي نه مـــني. (ژبــاړونكى)

(٣) الفقه الاكبر ٣٠٢ صفحــه.

دذات په هکله (له ځپل ځان) نه څه وواېي، بلکه هغه به په هغه شيانو (صفاتو) موصوفوي چې خپله يې خپل ځان په هغه موصوف کړی دی، او له خپل ځان نه به دهغه په باره کې څه نه وايي، هغه مبارك او لوی ذات دی، او دټولو مخلوقاتو رب او پالونکی دی»[1].

(۷) او کله چې دخدای ﷻ له ښکته کيدو څخه وپوښتل شو، ويې ويل: «بلا کيف ښکته کيږي»[2].

(۸) او وايي: «او له خدای ﷻ نه له لوړ (اوچت)

---

(۱) شرح العقيدة الطحاوية ۲/۴۲۷، ددوکتور عبد الله الترکي تحقيق، او جلاء العينين ۳۶۸ صفحه.

(۲) عقيدة السلف اصحاب الحديث ۴۲ صفحه، ددار السلفية چاپ، او الأسماء والصفات دبيهقي تأليف ۴۵۶ صفحه، او کوثري دهغه په باره کې سکوت کړيدی (يعنې هغه يې ردکړی ندی)، او شرح العقيدة الطحاوية ۲۴۵ صفحه، دناصر الدين الباني په تخريج، او شرح الفقه الاکبر دعلي القاري تأليف ۶۰ صفحه.

لوري نه سوال کیږي، نه له ښکته نـــه، ځکـــه چـــي ښکته والی هیڅکلـــه دربوبیـــت او الوهیـــت[۱] لـــه صفـــاتو نه نـــدي»[۲].

(۹) او وایي: «او خدای ﷻ په غضب کـــیږي، او راضـــي کیږي، او نه ښایي چي وویـــل شـــي: چـــي غضـــب دهغه عذاب دی، او رضا دهغه ثـــواب دی»[۳].

(۱۰) او وایي: «او (خدای ﷻ) دمخلوقاتو لـــه هیـــڅ شـــی سره مشابهت نه لري، همیشه پـــه خپلـــو نومونـــو او صفاتو (موصـــوف) وو، او دی»[٤].

---

(۱) دربوبیت معنی داده چي خـــدای ﷻ دتولـــو کائنـــاتو خـــالق او پالونکی دی، دالوهیت معنی داده چـــي دټولـــو انواعـــو دعبـــادت مستحق یوازي خدای ﷻ دی. (ژبـــاړونکی)

(۲) الفقـــه الابسط ٥۱ صفحـــه.

(۳) الفقـــه الابسط ٥٦ صفحه، او کوثـــري دهغـــه پـــه بـــاره کـــي ســـکوت کړیـــدی.

(٤) الفقـــه الاکبر ۳۰۱ صفحـــه.

(۱۱) او وايـي: «او دخـدای ﷻ صفـات دمخلوقـاتو دصفـاتو ځخه بیـل دي، (هغـه) عـالم دی او پوهيږي، خو نه زموږ دپوهې په شـان، او (پـر هـر شی) قادر دی خو نه زموږ دقـدرت پـه شـان، او ويني،خو نه زموږ دليدلو په شان، او اوري،خـو نـه زموږ داوريدلو په شان، او خبري كـوي خـو نـه زموږ دخبرو كولو په شـان»[1].

(۱۲) او وايي: «خـدای ﷻ دمخلوقـاتو (پـه هيـڅ يـو) صفت نشي موصوف كيـدلای»[2].

(۱۳) او وايي: «او ځوك چي خدای ﷻ دبشـري صفـاتو نه په يو صفت موصوف كړي، هغـه كـافر دی»[3].

---

(۱) الفقـه الاكبر ۳۰۲ صفحـه .
(۲) الفقـه الابسط ٥٦ صفحـه.
(۳) العقيدة الطحاوية دالباني په تعليـق ۲٥ صفحـه.

(۱٤) او وايي: «او صفات يـــي (دوه قســـمه) دي: ذاتي[۱] دي، او فعلـــي[۲] ، ذاتي صفـــات عبـــارت دي لـــه: ژوند، قدرت، علم، خبري كول، اوريـــدل، ليـــدل، او اراده. او فعلي صفـــات عبـــارت دي لـــه: پيـــدا كول، روزي وركول، نـــوى پيـــدا كـــول، ابـــداع، صنع، او نور فعلـــي صفـــات، او هميشـــه پـــه دغـــه صفاتو او نومونو موصـــوف وو او دى»[۳].

(۱۵) او وايي: «او (خداى ﷻ) هميشه (لـــه ازل نـــه) پـــه خپل فعل ســـره كوونكـــى دى، او فعـــل (دخـــداى

---

(۱) ذاتي صفات هغه دي چي خداى ﷻ يې په ضـــد او نقيـــض ســـره نه موصوف كيږي، لكـــه: علـــم چـــي ضديـــي جـــهل دى، او خداى ﷻ په جهل نشي موصوف كيـــداى. (ژبـــاړونكى)

(۲) فعلي صفات هغه دي چي خداى ﷻ دهغه پـــه ضـــد موصـــوف كيداى شي، لكه: پيدا كول او نه پيـــدا كـــول، روزي وركـــول او نه وركول، چي دواړه خداى ﷻ تـــه نســـبت كيـــداى شـــي. (ژبـــاړونكى)

(۳) الفقـــه الاكبر ۳۰۱ صفحـــه.

ﷻ) ازلي صفت دی، او فاعل خدای ﷻ دی، او فعل یې ازلي صفت دی، او مفعول (چې الله پیدا کړی) مخلوق دی، او دخدای ﷻ فعل مخلوق ندی»[١].

(١٦) او وایې: «څوك چې ووایې: نه پوهیږم چې خدای ﷻ په آسمان کې دی او که په ځمکه کې؟ هغه کافر دی، او همدارنګه څوك چې ووایې: خدای ﷻ پر عرش دی، خو نه پوهیږم چې عرش په آسمان کې دی او که په ځمکه کې (نو هغه هم کافر دی)»[٢].

(١٧) او دهغه سړي په جواب کې چې له ده نه یې

(١) الفقه الاکبر ٣٠١ صفحه.

(٢) الفقه الابسط ٤٦ صفحه، او دغه لفظ شیخ الاسلام ابن تیمیه هم په مجموع الفتاوی ٥/٤٨، او ابن القیم په اجتماع الجیوش الاسلامیة صفحه ١٣٩، او ذهبي په العلو ١٠١-١٠٢ صفحه، او ابن قدامه په العلو ١١٦ صفحه، او ابن ابي العز په شرح العقیدة الطحاویة ٣٠١ صفحه کې نقل کړیدي.

وپوښتل: ستا رب چې ته يې عبادت کـــوې چـيرې دی؟ (هغه) ووېل: «بېشکه خـــدای ﷻ پـــه آسمـــان کې دی نه په ځمکه کې، چـــا ورتـــه ووېـــل: آيـــا دخدای ﷻ دی قول تـــه نـــه ګورې چـــه وايـــي: ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ﴾[1] (هغه) ووېـــل: دا ددې پـــه شـــان ده چې وچا ته ولیکې: زه له تا ســـره يم، او تـــه لـــه هغه ځخه (لېرې) او غائب يـــې»[2].

(١٨) او وايـــي: «دخـــدای ﷻ لاس ددوی پـــر لاســـونو برسېره دی، (او دده لاســـونه) دمخلوقـــاتو دلاســـونو په شـــان نـــدي»[3].

(١٩) او همدا رنګه وايي: «بيله شکه چې خـــدای ﷻ پـــه آسمان کې دی نه په ځمکه کې، نو چا ورتـــه ووېـــل

---

(١) دالحديد سورت، ٤ آيت، تـــرجمه: «او (خـــدای ﷻ) ستاســـو ســـره دی».

(٢) الاسماء والصفات ٤٢٩ صفحـــه.

(٣) الفقـــه الابسط ٥٦ صفحـــه.

چې دخدای ﷻ دا قول ته نــه ګوری چــې وایــي: ﴿وَ هُوَ مَعَكُمْ﴾[1]؟ (هغه) وویل: دا ددی پـــه شـان ده چې ته چا ته ووایې: زه ستا ســره یم، او تــه لــه هغه نه (لیرې) او غائب یــي»[2].

(۲۰) او وایي: «خدای ﷻ مخکې لدی نــه چــې دموسـی ﷺ سره خبرې وکړې متکلــم (خــبرې کونکــی) وو»[3].

(۲۱) او وایي: «او خدای ﷻ په خپل کلام ســره متکلــم (ویاند) او خبرې کونکـــی وو، او کــلام د(هغــه) ازلي صـــفت دی»[4].

(۲۲) او وایي: «او خدای ﷻ خــبرې کــوي نــه زمــور

(۱) دالحدید سورت، ٤ آیت، ترجمه يې تـــیره شــوی ده.
(۲) الاسماء والصفـــات ۲/۱۷۰ .
(۳) الفقه الاکبر ۳۰۲ صفحـــه.
(٤) الفقه الاکبر ۳۰۱ صفحـــه.

دخبرو کولو په شـــان»[۱].

(۲۳) او وايـــي: «او موســـی ﷺ دخـــدای ﷻ خـــبري واوريدی، لکه څنـــګه چـــي خـــدای ﷻ وايـــي: ﴿وَكَلَّمَ اللَّـــهُ مُوسَـــى تَكْلِيمـــاً﴾[۲]، او خـــدای ﷻ مخکي لدی نه چي لـــه موســـی ﷺ ســـره خـــبري وکـــړي، متکلـــم وو (يعـــني دکـــلام پـــه صفـــت موصـــوف وو)»[۳].

(۲٤) او وايي: «او قـــرآن دخـــدای ﷻ کـــلام دی، پـــه مصحفونو کي ليکل شوی، په زړونـــو کـــي حفـــظ شوی، په ژبو باندي قراءت شـــوی، او پـــر پيغمـــبر ﷺ نازل شـــوی دی»[٤].

---

(۱) الفقه الاکبر ۳۰۲ صفحـــه.
(۲) دالنساء سورت، ۱٦٤ آيت، ترجمه: «او خـــدای ﷻ لـــه موســـی ﷺ سره خبري وکـــړی».
(۳) الفقه الاکبر ۳۰۲ صفحـــه.
(٤) الفقه الاکبر ۳۰۱ صفحـــه.

(٢٥) او وايي: «او قرآن مخلوق نـــدى»[١].

**ب- دقضاء اوقدر په باره کي دامام ابو حنيفه اقوال:**

(١) يو څوك امام ابو حنيفه ته راغى، او له ده ســره يــي دقضاء وقدر په باره کي خبري او بحــث وکــړ، نــو ده (ابو حنيفه) ورته وويل: «آيا نــه پوهــيږى څــوك چي دقضاء وقدر په بــاره کــي بحث او خــبري کوي دهغه چا په شان دى چي دلمــر وســترگي تــه گوري، چي څومره زياد ورتــه گوري هغومــره بــه زياد حيران (او سرگردان) شـــي»[٢].

(٢) امــام ابو حنيفه وايي: «او خــداى ﷻ لــه ازل نــه په ټولو شيــانو عالم وو مخکي لدى نــه چــي هغــه پيــدا کــړي»[٣].

(٣) او وايي: «خداى ﷻ هغه څه چي پيــدا شــوي نــه

---

(١) الفقه الاكبر صفحـــه ٣٠١ .

(٢) قلائد عقود العقبـــان (ق-٧٧-ب) .

(٣) الفقه الاكبر ٣٠٢-٣٠٣ صفحـــه.

وي دعدم په حـال کـي پـه هغـه عـالم وي، او پوهیږي چـي دهغـه پیدایـش بـه څنـګه وي، او خدای ﷻ هغـه څـه چـي موجـوداو پیـدا دي دوجود په حـالت کـي پـه هغـه عـالم وي، او پوهیږي چي فنا به يې څنـګه وي»[١].

(٤) او وايي: «او (دهر شي) تقدير يې پـه لـوح محفـوظ کي ليکلـی دی»[٢].

(٥) او وايي: «او موږ پدی اقرار کوو چـي خـدای ﷻ قلم ته امر وکر چي وليکي، نو قلم وويـل: ای زمـا ربه څه وليکم؟ خدای ﷻ وويل: هغه څـه وليکـه چي دقيامت تر ورځي پوري پيـدا کيدونکـي دي، خدای ﷻ فرمايي: ﴿وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِـي الزُّبُـرِ

---

(١) الفقه الاکبر ٣٠٢-٣٠٣ صفحـه .

(٢) الفقه الاکبر ٣٠٢ صفحـه.

﴿ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ ﴾[1] »[2].

(٦) او وايي: «او هيڅ شی په دنيا او آخرت کې دخدای ﷻ له ارادی نه پرته نه واقع کیږي»[3].

(٧) او وايي: «خدای ﷻ ټول شيان پيدا کړيدي، (خو) نه له بل شي نه»[4].

(٨) او وايي: «او خدای ﷻ دشيانو له پيدا کولو نه مخکي خالق او پيدا کونکی وو (یعني دپيدا کولو او خلق کولو صفت په ازل کي ورته ثابت وو)»[5].

(٩) او وايي: «موږ پدی اعتراف کوو چي بنده دخپلو

---

(١) دالقمر سورت، ٥٢-٥٣ آيت، ترجمه: «او هر څه چي يې کړي دي په هغه کتابو کي چي (ملائکو ليکلي دي) درج دي، او (ددوی له اعمالو نه) هر وړکوتی او لوی (ددوی) په (صحيفو) ليکلي دي».

(٢) الوصية مع شرحها ٢١ صفحه.

(٣) الفقه الاكبر ٣٠٢ صفحه .

(٤) الفقه الاكبر ٣٠٢ صفحه.

(٥) الفقه الاكبر ٣٠٤ صفحه .

اعمالو، او اقرار، او معرفت سره مخلوق دی، او کله چې فاعل او کوونکی (بنده) مخلوق وي، نو اعمال به يې هرو مرو مخلوق وي»[1].

(۱۰) او وايي: «دبندگانو تول اعمال لکه: حرکت او سکون ددوی کسب او عمل دی، او خدای ﷻ دهغه پيدا کونکی او خالق دی، او هغه ټول د(خدای ﷻ) په اراده او علم او قضاء وتقدير سره دي»[2].

(۱۱) او وايي: «او دبندگانو تول اعمال لکه حرکت او سکون حقيقتاً ددوی له کسب او عمل څخه دي، او خدای ﷻ دهغه خالق دی، او دا ټول دخدای ﷻ په علم او اراده او قضاء او تقدير سره دي، او طاعتونه او ټنه اعمال ټول دالله تعالی په امر، محبت، رضا، علم، اراده، قضا او تقدير

---

(۱) الوصية مع شرحها ۱٤ صفحه.
(۲) الفقه الاكبر ۳۰۳ صفحه.

سره دي، او بد اعمال ټول دخدای ﷻ په علم او قضاء اوتقدیر او اراده سره دي، (خو) نه دهغه په محبت او رضایت او امر سره»[1].

(۱۲) او وایي: «او خدای ﷻ مخلوقات دکفر او ایمان څخه سالم (خالي) پیدا کړي دي[2]، او بیا یي دوی ته خطاب (وینا) وکړه (امر او نهي یي ورته وکړه)، چي بعضو په خپله اراده او دخدای ﷻ له توفیق نه پرته له حق نه انکار وکړ او کافر شول، او بعضو (په خپله اراده) او دخدای ﷻ په توفیق او تأیید سره (په حق) اعتراف او تصدیق وکړ او مؤمنان شول»[3].

(۱۳) او وایي: «او دآدم ؑ اولاده یي دده له ملا

(۱) الفقه الاکبر ۳۰۳ صفحه.
(۲) صحیح خبره داده چي خدای ﷻ مخلوقات پر اسلامي فطرت پیدا کړیدي، لکه څنګه چي خپله ابو حنیفه هم په خپل وروستني قول کي دی خبري ته اشاره کړی ده.
(۳) الفقه الاکبر ۳۰۲-۳۰۳ صفحه .

(صُلْب) نه دمیږیانو په شکل راوایستل، او بیا یې هغوی مخاطب کړل او په ایمان راوړلو یې ورته امر وکړه، او له کفر نه یې منع کړل، بیا الله ته دوی په ربوبیت اقرار وکړ، او پدی ډول دوی ایمان راوړ، او دوی پر همدی (مؤمن) فطرت باندي دنیا ته راغلل، نو څوك چي وروسته لدی نه کفر اختیار کړي (په حقیقت کي یې خپل اولنی‌تعهد او پیمان) بدل کړ، او څوك چي ایمان راوړي او د(حق) تصدیق وکړي (نو په حقیقت کي پر خپل اولني تعهد باندي) ثابت پاته شوی دي»[1].

(۱٤) او وایي: «او خدای ﷻ تول شیان په تقدیر کي لیکلي، او دهغي فیصله یې کړیده، او هیڅ شی په دنیا او په آخرت کي دخدای ﷻ له ارادی او علم او قضاء او تقدیر نه بغیر نه واقع کیږي، او

(۱) الفقه الاکبر۳۰۲ صفحه.

هغه يې (ټول) په لوح محفوظ کـــې ليکلـــي دي»[۱].

(۱۵) او وايي: «او هيڅ څوك له مخلوقاتو نه يـــې پـــر ايمـــان او کفر باندې مجبور کـــړي نـــدی، خـــو دوی يـــې دافرادو په شکل پيدا کړل، کفر او ايمان دبنـــدګانـــو له افعالو نه دی، او خـــدای ﷻ دکـــافر پـــه کفـــر دهغه دکفر په حالت کې عـــالم دی، او چـــې کلـــه ايمان راوړي، نو په ايمان يې عـــالم دی، او لـــه هغـــه سره محبت لري، بيله دی چې دهغـــه (خـــدای ﷻ) په علم کې (څه) تغير راشـــي»[۲].

## ج- دايمان په باره کې دامام ابو حنيفه اقـــوال:

(۱) امام ابو حنيفه وايي: «ايمـــان عبـــارت لـــه اقـــرار او تصديق نـــه دی»[۳].

(۲) او وايي: «ايمان عبارت دی له اقرار په ژبـــه ســـره او

(۱) الفقه الاکبر ۳۰۲ صفحـــه .

(۲) الفقه الاکبر صفحـــه ۳۰۳ .

(۳) الفقه الاکبر ۳۰٤ صفحـــه.

تصدیق په زړه سره، او یــوازې اقــرار کــول ایمــان
ندی»[۱]. دا قول طحاوي له ابو حنیفه او دهغــه لــه
دوو یارانو (ابــو یــو ســف او محمــد) نــه نقــل
کــړیدی»[۲].

(۳) او وایي: «او ایمان نه زیاتیږي، او نــه کمــیږي»[۳].

زه وایم: چي دابو حنیفــه دا قــول چــي ایمــان نــه
زیاتیږي او نه کمــیږي، او دا چــي ایمــان یــوازې
عبارت له قلبي تصدیق او دژبي له اقــرار نــه دی، او
اعمال دایمــان لــه حقیقــت نــه خــارج دي، دا
دابو حنیفه او دنورو امامانو لکــه: مــالك، شــافعي،
احمد، اسحاق، بخاري، او نورو دعقیدی تــر مینــځ
داختلاف او جلاوالي نقطــه ده، او حــق (پــه دی

---

(۱) کتاب الوصیة مع شرحها ۲ صفحــه.
(۲) الطحاویة مع شرحها ۳٦۰ صفحــه.
(۳) کتاب الوصیة مع شرحها ۳ صفحــه.

مسئله کي) له هغوی سره دی، او دابو حنيفه قول له حق نه لیري دی، (خو) په دوارو صورتونو کي (يعني که يې قول صحيح وي او يا خطا وي) ده ته اجر او ثواب ورکول کيږي، او ابن عبدالبر او ابن ابي العز داسي راوړي دي چي گواکي ابو حنيفه لدی قول نه رجوع کړی ده، او خدای ﷻ ښه پوهيږي» [1].

## د- دصحابه وو ﷺ په باره کي دامام ابو حنيفه اقوال:

(١) امام ابو حنيفه وايي: «او هيڅ يو دپيغمبر ﷺ له اصحابو نه بيله خير نه په بل څه نه يادوو» [2].

(٢) او وايي: «او دپيغمبر ﷺ داصحابو له هيڅ يو نه

---

(١) التمهيد دابن عبد البر تأليف ٩/٢٤٧، شرح العقيدة الطحاوية ٣٩٥ صفحه.

(٢) الفقه الاكبر ٣٠٤ صفحه.

بیزاري نه کوو، او نه له یوه سره لـه بـل نـه پرتـه محبت کـوو»[(۱)].

(۳) او وایي: «دهغوی دیو کـس دیـو سـاعت لپـاره دپیغمبر ﷺ سره اوسیدل زموږ دټول عمر تـر عمـل ښه او بهتر دي، ولو که زمـوږ عمـر هـر څومـره زیات هـم وي»[(۲)].

(٤) او وایي: «او موږ اقرار کوو چـې غـوره ددی امـت دپیغمبر ﷺ نه وروسته ابـو بکـر صدیـق، وروسـته عمر، وروسته عثمان، او وروسـته علـي ﷺ دی»[(۳)].

(٥) او وایي: «دپیغمبر ﷺ نه وروسته دخلګو نه لـه ټولـو غوره او بهتره ابو بکر او عمر او عثمـان او علـي ﷺ دي، او وروسـته لـه دوی نـه دپیغمـبر ﷺ دټولـو

---

(۱) الفقه الابسط ٤٠ صفحـه .

(۲) مناقب ابي حنیفة دمکي تـألیف ۷٦ صفحـه.

(۳) الوصیة مع شرحها ١٤ صفحـه.

اصحابو په باره بيله خير نه بل څه نه وايـــو»[۱].

**هــ- ابو حنيفه په دين كي لـــه (بيځايــه) خصومــت او بحث كولو نه منع كــوي:**

(۱) ابو حنيفه وايي: «په بصره كـــي زيـــاتي گمـــراه ډلي شته، او زه له شل ځلي نه زيـــات هلتـــه تللـــى يم، او كله مي يو كال يا زيات او يا كم لـــه دى نـــه هلتـــه تير كړي دي، او فكر به مي كاوه چي علـــم كـــلام له ټولو نه افضل علـــم دى»[۲].

(۲) او وايي: «زه دعلم كـــلام پـــه زده كولـــو دومـــره مشغول شوم او دى حد ته ورسـيدم چـــي خلـــگو را ته په گوته اشاره كول (يعني ديـــر شـــهرت مـــي تر لاسه كړ)، او مور دحماد دحلقـــي ســـره نـــژدى په يو حلقه كي كيناستلو، چي (يـــوه ورځ) يـــوى

---

(۱) لكه څنگه چي په النور اللامع (ق ۱۱۹-ب) كي لـــده نـــه نقـــل شـــوي دي.

(۲) مناقب ابي حنيفة دالكردري تـــأليف۱۳۷ صفحـــه.

ښځې (راشخه پوښتنه وکړه) او راته یې وویل: یو څوك دی ښځه یې مینځه ده او غواړي چې هغه په مسنونه طریقه سره طلاقه کړي، نو څنګه طلاق ورکړي؟
زه پوه نه شوم (چې په جواب کې) څه ووایم، هغې ته مې امر وکړ چې حماد ته ولاړه شي (دهغه څخه پوښتنه وکړي) او بیا ما ته خبر راکړي، (نو هغه) ولاړه او له حماد څخه یې پوښتنه وکړه، هغه ورته (په جواب کې) وویل: چې مینځه دې وروسته لدی نه چې له حیض نه پاکه شي، مخکې لدی نه چې ورسره یو ځای شي (جماع ور سره وکړي) طلاقه دې یې کړي، او بیا دې تر دوو حیضو پورې پریږدي (انتظار دې ورته وکړي)، وروسته لدی نه چې له دوهم حیض نه (پاکه شي) او غسل وکړي، نو بیا دبل

میره سره دهغې نکاح روا ده.

ښځه بیرته راغله او ماته یې قصه وکړه، ما وویل: چې نور زما لپاره د(علم) کلام په هکله څه ضرورت نشته، او خپل بوټونه مې واخیستل او دحماد په حلقه کې کښیناستم»[1].

(۳) او وایي: «دخدای ﷻ لعنت دې پر عمر بن عبیدوي، ځکه چې دخلکو لپاره یې دعلم کلام دبیځایه او بې فائدې بحثونو لاره پرانیستله»[2].

او چا ځنې پوښتنه وکړه او ویې ویل: دکومې خبرې په باره کې چې خلګو (په علم کلام کې) دعَرَض او جسم[3] په هکله را پیدا کړې دې څه

(۱) تاریخ بغداد ۳۲۳/۱۳ .
(۲) ذم الکلام دالهروي تألیف ۲۸-۳۱ صفحه.
(۳) عَرَض هغه شي ته وایي چې جسم نه وي او مستقل وجود ونه لري، او په بل شي پورې مربوط وي لکه: خندا، رنګ، بوی او نور.
=

وايي؟ (په جواب کـــي) ورتـــه وويـــل: (دا تـــول) دفيلسوفانو (بيځايـــه) خـــبري دي، دســـلف صـــالح دسنتو په لاره روان شه، او (په ديـــن کـــي) دنـــوي شيانو له پيدا کولو نه ډډه وکړه، ځکـــه چـــي (پـــه دين کي) هر نوی کار بدعـــت دی»[1].

(٤) حماد دابو حنيفه زوی وايي: «زمـــا مرحـــوم پـــلار يوه ورځ ما ته راغی، او (پدی وخـــت کـــي) زمـــا سره داهل کلام يوه ډله وه چـــي زمـــا ســـره يـــي مناقشه او بحث کـــاوه، او آوازونـــه مـــو اوچـــت شوي وه، او چي کله دهغه له ننوتلو نه پـــوه شـــوم نو دباندي ورته راووتلم، راته يـــي وويـــل: څـــوك در سره دي؟ ورته ومي ويـــــل: چـــي فلانکـــی او

---

او جسم هغه ته وايي چي عَـــرَض نـــه وي او دتجزيـــي وړ وي او مستقل وجود ولـــري، لکـــه: انســـان، تيـــگه، لـــرگی او نـــور. (ژبـــاړونکی)

(١) ذم الكلام داهروي تـــأليف (١٩٤/ب).

فلانکی او فلانکی، کوم کسان چې زما سره وو، په نومونو مې یاد کړل، ویل یې: دځه باره کې مو مناقشه او بحث کاوه؟ ورته مې وویل: دفلانکي او فلانکی مسئلې په باره کې، ویل یې: چې علم کلام پرېږده، (حماد) وایي: چې هیڅکله مې خپل پلار نه وو لیدلی چې بیځایه خبره وکړي، او یا (یو ځلي) په یو کار امر وکړي، او بیا ورنه منع وکړی. پلار ته مې وویل: ای پلاره، تا (مخکي) ما ته امر کاوه (چې علم کلام زده کړه)،ویل یې: هو زویه، او زه دې نن له هغه ځخه منع کوم، ورته مې وویل: چې ولې؟ ویل یې: اي زویه دا کسان چې دعلم کلام په مسائلو کي په خپلو مینځو کې اختلاف لري، (مخکي لدی نه) په یو نظر وو او دین یې یو وو، تر ځو چې شیطان ددوی په مینځ کې دښمني او اختلاف پیدا کړ، او پدی توګه یې

دوی يو له بل سره ليري کـــړل..»[۱].

(٥) او امام ابو حنيفه ابو يوسف ته وويـــل: «لــدی نــه ډډه وکړه چي و عوامو خلگو ته داصـــول ديـــن پــه باره کي دعلم کلام څخه خـــبري وکـــړي، ځکــه هغوی به بيا ستا نه پيروي کـــوي او دعلـــم کـــلام (په زده کړه) به مشغول کـــيږي»[۲].

دا دابو حنيفه رحمة الله عليـــه داقوالـــو (او عقيـــده وي نظرياتو) يوه برخه وه چي داصول دين دمســـائلو او دعلـــم کلام او اهل کلام په باره کي (يې دهغه دريـــځ څـــرگنـــد کړی)، او له هغه نه مو را نقل کـــړه.

(۱) مناقب أبي حنيفة دالمكي تـــأليف ۱۸۳-۱۸٤ صفحـــه.
(۲) مناقب أبي حنيفة دالمكي تأليف ۳۷۳ صفحه.

## دريم مبحث

## د امام مالك رحمة الله عليه عقيده:

### أ- د توحيد په باره كي دامام مالك اقوال:

(۱) هروي د شافعي څخه نقل كوي چي وايي: له امام مالك نه د علم كلام او توحيد په باره كي پوښتنه وشوه، (په جواب) كي يي وويل: «(هيڅ كله) امكان نلري چي د پيغمبر ﷺ په باره كي داسي (غلط) گمان وشي چي هغه دي (خپل) امت ته د استنجاء احكام ښودلي وي، خو توحيد دي يي نه بي ورته ښودلی، او توحيد هغه دی چي پيغمبر ﷺ (د هغه په باره كي) وايي: «امر را ته شوی دی چي د خلكو (كافرانو) سره تر هغه وجنگيږم چي (كلمه د توحيد) لا اله الا الله ووايي»[1]، نو كوم

(۱) دا حديث بخاري په كتاب الزكاة، باب وجوب الزكاة ۲۶۲/۳، ح۱۳۹۹، او مسلم په كتاب الإيمان، باب الأمر بقتال الناس حتى يقولوا لا اله الا الله محمد رسول الله ۵۱/۱، ح ۳۲۴، او النسائي په كتاب الزكاة، باب مانعي الزكاة ۱۴/۵، ح ۲۴۴۳، تولو له عبيد الله عتبة بن مسعود له=

شي چې ددوی مال او وينه (ژوند) خوندي وساته، هماغه حقيقي توحيد دی»[(١)].

(٢) دارقطني له وليد بن مسلم نه نقل کوي چې وايي: «له مالك، ثوري، اوزاعي، او ليث بن سعد نه مې د هغه احاديثو چې د (خدای ﷻ) د صفاتو په باره کې راغلي دي پوښتنه وکړه، ويل يې: لکه څنګه چې راغلي هماغسې دي پرې عقيده وکړی (او ايمان دي پرې ولری)»[(٢)].

(٣) ابن عبد البر وايي: «له مالك نه پوښتنه وشوه چې خدای ﷻ د قيامت په ورځ ليدل کيږي؟ ويل يې: هو، خدای ﷻ فرمايي: ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ

---

ابو هريره نه روايت کړی دی، او ابو داود په کتاب الجهاد، باب على ما يقاتل المشركون ١٠١/٣، ح ٢٦٤٠، له ابو صالح له ابو هريرة نه روايت کړی دی.

(١) ذم الكلام (ق-٢١٠).

(٢) دا اثر دار قطني په الصفات ٧٥ صفحه، او آجرّي په الشريعة ٣١٤ صفحه، او بيهقي په الاعتقاد ١١٨ صفحه، او ابن عبد البر په التمهيد ١٤٩/٧ کې راوړی دی.

نَاضِرَةٌ ۞ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾[١]، او د بلي دلي په باره كي فرمايي: ﴿كَلاَّ إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ﴾[٢]»[٣].

قاضي عياض په خپل كتاب ترتيب المدارك[٤] كي له ابن نافع[٥] او

(١) د القيامة سورت،٢٢ آيت، ترجمه: «(د نيكانو او صالحانو) مخونه د قيامت په ورځ روښانه وي، او خپل رب ته گوري».

(٢) د المطففين سورت، ١٥ آيت، ترجمه: «قطعاً (داسي نده لكه څنگه چي كفار وايي)، بلكه دوى د قيامت په ورځ د خپل رب له ليدلو نه محروم دي».

(٣) الانتقاء ٣٦ صفحه.

(٤) ٤٢/٢ .

(٥) د ابن نافع په نوم دوه كسه له مالك نه روايت كوي: يو عبد الله بن نافع بن ثابت الزبيري، ابو بكر، المدني دى، چي ابن حجر د هغه په باره كي وايي: «صدوق دى، په ٢١٦هـ كال كي وفات شوى دى»، او دوهم كس عبد الله بن نافع ابن ابي نافع، المخزومي مولاهم، ابو محمد، المدني دى، ابن حجر دهغه په باره كي وايي: «ثقة، صحيح الكتاب في حفظه لين، په ٢٠٦هـ كال او ويل كيږي چي ورروسته لدى نه وفات شوى دى».

تقريب التهذيب ٤٥٥/١-٤٥٦، او تهذيب التهذيب ٥٠/٦-٥١ دي وكتل شي.

اشهب[١] څخه نقل کوي چي (و امام مـــالك) تــه دوی وویل: ای ابو عبد الله آیا یـــو لـــدوی نـــه پـــر نورو باندی ښه والی لری (لکه څنګه چـــي خـــدای ﷻ فرمايي): ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَـاضِرَةٌ ۞ إِلَـى رَبِّـهَا نَاظِرَةٌ﴾ او خدای ﷻ ويـــني؟ ويـل بي: هـو، پـه خپلو دوو سترګو باندي، مـا ورتـه وويـل: چـي بعضي وايي چي خدای ﷻ نـه ليـدل كـيږي، او د«ناظرة» کلمه (په آيت کـي) ثـواب تـه دانتظـار كوونكي په معنى ده، ويل بي: درواغ وايـــي، بلكـه خدای ﷻ ليدل کيږي، آيـا دموسـى عليه السلام قـول دي ندی اوريدلی (چي وايـــي): ﴿قَـالَ رَبِّ أَرِنِـي أَنظُرْ إِلَيْكَ﴾[٢]، آيا موسـى عليه السلام نـاممكن (او محـال)

---

(١) هغه: اشهب بن عبد العزيز بـن داوود ابـو عمـر المصـري دی، ابن حجر دهغه په باره کي وايي: «ثقـــة، فقيــه، پــه ٢٠٤هــــ کال کي وفات شـوی دی».
تهذيب التهذيب ١/٨٠ دي وكتل شـــي.

(٢) دالاعراف سورت، ١٤٣ آيت، ترجمه: «ای زما ربـه خپـل ځـان را ته ښکاره کړه چي درتـــه وګورم».

کار له خدای ﷻ نــه غوښــتی وو؟ پداســي حــال کي خدای ﷻ بي په جــواب کــي وويــل: ﴿لَــنْ تَرَانِي﴾[١] يعني په دنيا کي، (او دا) ځکه چــي دنــيا دار فناء او له مينځه تلونکی ده، او کــوم شــی چــي له مينځــه تلونکــی اوفــاني وي (يعــني د انســان سترګي) پــه هغــه بــاندي (د خــدای ﷻ د ذات) چي باقي او هميشه دی ليدل ممکن ندي، خــو چــي کله دار بقاء (آخرت) ته ولاړ شــي نــو (د آخــرت په سترګو) چي (د هميشــه لپــاره بــه) بــاقي وي د (خدای ﷻ) هميشه باقي (ذات) به ووينــي، خــدای ﷻ فرمــايي: ﴿كَــلاَّ إِنَّــهُمْ عَــنْ رَبِّــهِمْ يَوْمَئِــذٍ لَمَحْجُوبُــونَ﴾[٢].

(٤) او ابو نعيم له جعفر بن عبد الله څخــه نقــل کــوي وايي: «موږ د مالك بن انس ســره وو چــي څــوك

(١) د الاعراف سورت، ١٤٣ آيت، ترجمه: «هيڅ کله به ما و نــه ويــنې».

(٢) د المطففين سورت، ١٥ آيت، ترجمه: «قطعــاً (داســي نــده لکــه څنګه چي کفار وايي)، بلکــه دوی د قيــامت پــه ورځ د خپــل رب له ليدلو نه محــروم دي».

ورته راغی او ويې ويل: ای ابو عبد الله، رحمن (خدای ﷻ) پر عرش باندې استواء کړی ده، څنګه استواء يې کړی ده؟

مالك داسې په غضب شو چې کله هم د پوښتنې په وخت داسې په غضب شوی نه وو، بيا يې د ځمکې خواته کتل او يو کوچنی لرګی يې په خاورو کې ښوراوه تر څو ټول وجود يې خولې شو، او بيا يې سر را پورته کړ او لرګی يې وغورځاوه او ويې ويل: د (استواء) کيفيت معقول (معلوم) ندی، او (د خدای ﷻ) استواء مجهوله نده، او ايمان پر هغه باندې واجب دی، او د هغه په باره کې سوال کول بدعت دی، او زه تا د بدعتيانو څخه ګڼم، او بيا يې امر وکړ چې (دده له مجلس) نه يې وباسي، او بيا يې (له مجلس نه) وايستل شو»[1].

---

(١) الحلية ٦/٣٢٥-٣٢٦، او دا اثر صابوني په عقيدة السلف اصحاب الحديث ١٧-١٨ صفحه کې له جعفر بن عبد الله=

(٥) او ابو نعیم له یحیی بن الربیع نه نقـــل کـــوي وایـــي:
«موږ د مالك بن انس سره وو چې یو ځـــوك راغـــی
او ورته وېې ویل: ای ابو عبـــد الله د هغـــه چـا پـــه
باره کې چې وايي قرآن مخلوق دی څـــــه وايې؟
مالك وویـــل: «دا زندیـــق[1] دی مـــړ یـــې کـــړی،

---

له مالك نه، او ابن عبد البر په التمهید ۱۵۱/۷ کـــي لـــه عبـــد الله بن نافع له مالك نه، او بیهقي پـــه الاسمـــاء والصفـــات ٤۰۸ صفحه کي له عبد الله بن وهب له مالك نـــه نقـــل کـــړی دی، حافظ ابن حجر په فتح البـــاري ٤۰٦/۱۳-٤۰۷ کـــي وایـــي: «اسناده جید»، او ذهـــبي پـــه العلـــو ۱۰۳ صفحـــه کـــي هغـــه تصحیـــح کـــړی دی.

(۱) زندیق فارسي کلمه ده چې په ابتـــداء کـــي مســـلمانانو هغـــه د مانویانو په باره کي چې پـــه دوو اصلـــو: روښـــنايي او تـــاریکي باندي عقیده لري، اســـتعمالاوه، او بیـــا یـــي مفـــهوم پراختیـــا وموند او پر دهریینو او پـــر نـــورو بـــاطل عقـــائدو والا ډلـــو او گمراهانو او هغو کسانو باندي چې د دین پـــه بـــاره کـــي یـــي شك کاوه، او هغو کسانو چې پـــه فکـــري او عملـــي ډگر کـــي يې خپل ځان آزاد باله، اطلاق وشـــو.
الموسوعة المیســـرة ۹۲۹/۱، او تـــاریخ الالحـــاد د عبـــد الرحمـــن بدوي تألیف ١٤-٣٢ صفحه دي وکتـــل شـــي.

(سړي) وويل: اى ابو عبد الله، ما دا خبره له بل چا نه اوريدلي او (تاته يي) نقل کوم، (مالك) وويل: ما له بل چا نه نده اوريدلي، بلکه ستا نه مي واوريدل، نو (مالك) دا خبره ډيره لويه او خطرناکه وګڼله»[1].

(٦) او ابن عبد البر له عبد الله بن نافع څخه نقل کوي چي وايي: «مالك بن انس وايي: څوك چي وايي: قرآن مخلوق دی، (نو هغه دي) سخت ووهل شي او بندي دي شي تر څو توبه وباسي»[2].

(٧) او ابو داوود له عبد الله بن نافع نه نقل کوي چي وايي: «مالك وايي: خدای ﷻ په آسمان کي دی،

(١) الحلية ٦/٣٢٥، او لالکائي هغه په شرح اصول اعتقاد اهل السنة والجماعة ١/٢٤٩ کي له ابو محمد يحيى بن خلف له مالك نه، او قاضي عياض په ترتيب المدارك ٢/٤٤ کي نقل کړی دی.
(٢) الانتقاء ٣٥ صفحه.

او علم يې په هر ځاى كـــي دى»[١].

## ب- د قضاء او قدر په بـــاره كـــي د امـــام مـــالك اقـــوال:

(١) ابو نعيم له ابن وهب[٢] نه نقل كـــوي چـــي وايـــي: «له مالك نه مي واوريدل چي و يـــو چـــا تـــه يـــي ويل: تا تيره ورځ زما ځخـــه د قضـــاء او قـــدر پـــه باره كي پوښتنه وكړه؟ هغه ويـــل: هـــو، (مـــالك) ويل: چي خداى ﷻ فرمايي: ﴿وَلَـــوْ شِـــئْنَا لَآتَيْنَـــا كُلَّ نَفسٍ هُدَاهَا وَلَكِنْ حَـــقَّ الْقَـــوْلُ مِنِّـــي لَأَمْلَـــأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّـــاسِ أَجْمَعِـــينَ﴾[٣]، نـــو حتمـــا

(١) ابو داوود هغه په مسائل الامـــام احمـــد ٢٦٣ صفحـــه كـــي، او عبد الله بن احمد په السنة ١١ صفحه، زوړ چـــاپ كـــي، او ابـــن عبد البر په التمهيد ١٣٨/٧ كي نقـــل كـــړى دى.

(٢) هغه عبد الله بن وهب القرشي مولاهم المصـــري دى، ابـــن حجـــر د هغه په باره كي وايـــي: «الفقيـــه، ثقـــة، حـــافظ، عـــابد، پـــه ١٩٧هـــ كال كي وفات شـــوى دى».
تقريب التهذيب ٤٦٠/١ دي وكتل شـــي.

(٣) د السجدة سورت، ١٣ آيت، ترجمه: «كه مو غوښـــتي واى نـــو هـــر نفس (انسان) ته به مو هدايت كړى واى، ليكـــن زمـــا قـــول (پـــر-

هماغسي کیږي چي ویلي یـــي دي»[(١)].

(٢) او قاضي عیاض وايي: «له امام مـــالك نـــه د قدریـــه وو[(٢)] په باره کي پوښتنه وشـــوه چـــي هغـــه کـــوم کسان دي؟ وېي ویـــل: هغـــوی هغـــه کســـان دي چي وايي: گناهونه (خدای ﷻ) ندي پیـــدا کـــړي، او همدارنگه (لده نه) د قدریـــه وو پـــه بـــاره کـــي پوښتنه وشوه؟ وېي ویل: هغـــوی هغـــه کســـان دي چي وايي: پر (افعالو او اعمالو بـــاندي) توانیـــدل او قدرت لرل د دوی (انســـانانو) لخـــوا نـــه دی، کـــه وغواړي د خدای ﷻ اطاعت بـــه کـــوي، او (کـــه و غواړي) نافرماني به يې کـــوي»[(٣)].

---

دی خبري) ولاړ او ثابت شوی دی چي له جنیـــاتو او انســـانانو (لـــه کفارو او گنهگارانو) نه به ټول یو ځـــای دوزخ ډکـــوم».

(١) الحلیـــة ٣٢٦/٦ .

(٢) د قدریه وو تعریف مخکي کي تیر شـــوی دی. (ژبـــاړونکی)

(٣) ترتیب المـــدارك ٤٨/٢، او شـــرح اصـــول اعتقـــاد اهـــل الســـنة والجمـــاعة ٧٠١/٢ .

(٣) او ابن ابي عاصم له سعيد بن عبد الجبار نه نقل کوي چي وايي: «لهَ مالك نه مي واوريدل چي ويل يي: زما نظر د (قدريه وو) په باره کي دادی چي په توبه ويستلو دي امر شي، که توبه ونکړي نو قتل دي شي»[١].

(٤) او ابن عبد البر وايي: «مالك وايي: په قدريه وو کي مي بيله بي عقل او احمق کسانو نه بل څوك و نه موندل»[٢].

(٥) او ابن ابي عاصم له مروان بن محمد طاطري څخه نقل کوي چي وايي: «له مالك نه مي واوريدل چي و قدريه وو ته د ښځي ورکولو په باره کي څني پوښتنه وشوه؟ (په جواب کي يي) د

---

(١) السنة د ابن ابي عاصم تأليف ١/٨٧-٨٨، او ابو نعيم هم هغه په الحلية ٦/٣٢٦ کي نقل کړی دی.
(٢) الانتقاء ٣٤ صفحه.

خدای ﷻ دا قول ووايه: ﴿وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ﴾[١] ...»[٢].

(٦) او قاضي عياض وايي: «مالك وايي: د قدريه وو هغه کسان چي خلك و خپل بدعت (باطلي عقيدی) ته رابولي، هغوی ته بنځه ورکول روا نده، او همدارنګه د خوارجو[٣] او روافضو[٤] شهادت روا ندی (او بايد ونه منل شي)»[٥].

(٧) او قاضي عياض وايي: «له مالك نه د قدريه وو په

---

(١) د البقرة سورت، ٢٢١ آيت، ترجمه: «او مؤمن مريي (غلام) له مشرك نه بهتره دی».

(٢) السنة د ابن ابي عاصم تأليف ١/٨٨، او الحلية ٦/٣٢٦ .

(٣) خوارج د اهل سنت او جماعت د مخالفو ډلو څخه يوه ډله ده، چي د علي او معاويه رضي الله عنهما په مينځ کي د اختلاف پيدا کيدلو نه وروسته مينځ ته راغلي ده، او بدی عقيده دي چي علي او عثمان رضي الله عنهما کافران دي (نعوذ بالله من ذلك)، او د لوی ګناه (ګناه کبيره) مرتکب کافر ګني، او وايي چي هميشه به په دوزخ کي وي. (ژباړونکی)

(٤) روافض اهل تشيع ته وايي. (ژباړونکی)

(٥) ترتيب المدارك ٢/٤٧ .

باره کي پوښتنه وشوه چي آيا د هغوی سره خبرو کولو نه ځان وساتو؟ ويې ويل: هو، په هغه صورت کي چي په عقيده يې خبر وي، او په بل روايت کي وايي: په هغوی پسي دي لمونځ نه کوي، او ندي حديث ځني قبلوي، او که له هغوی ځخه مو کوم څوك د مسلمانانو د حراست او حفاظت په ځای کي ومونده، نو له هغه ځايه نه يې وباسي»(١).

## ج- د ايمان په باره کي د امام مالك اقوال:

(١) ابن عبد البر له عبد الرزاق بن همام نه نقل کوي وايي: «له ابن جريج(٢) او سفيان ثوري او معمر ابن راشد او سفيان بن عيينه او مالك بن انس نه

---

(١) ترتيب المدارك ٢/٤٧ .

(٢) هغه عبد الملك بن عبد العزيز بن جريج الرومي الأموي مولاهم المكي دی، ذهبي د هغه په باره کي په تذکرة الحفاظ ١/١٦٩ کي وايي: «الإمام، الحافظ، فقيه الحرم، أبو الوليد، په ١٥٠هـ کال کي وفات شوی دی».
تاريخ بغداد ١٠/٤٠٠ دي وکتل شي.

مي واوريدل چي وايي: ايمان عبارت دی له قول او عمل نه، او زياتيږي او کميږي»[(١)].

(٢) او ابو نعيم له عبد الله بن نافع نه نقل کوي چي وايي: «مالك بن انس ويل: ايمان عبارت دی له قول او عمل نه»[(٢)].

(٣) او ابن عبد البر له اشهب بن عبد العزيز نه نقل کوي وايي: «مالك وايي: خلکو دبيت المقدس طرف ته شپاړس (١٦) مياشتي لمونځ وکړ، او بيا امر شول چي دبيت الله طرف ته (لمونځ وکړي)، خدای ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾[(٣)] يعني ستاسو لمونځونه وبيت المقدس ته، مالك وويل: او زه پدی سره غواړم دمرجئه وو[(٤)]

(١) الانتقاء ٣٤ صفحه.
(٢) الحلية ٣٢٧/٦ .
(٣) دالبقرة سورت، ١٤٣ آيت، ترجمه: «او خدای ﷻ هيڅ کله ستاسو ايمان (يعني لمونځ) نه ضايع کوي»[(٣)].
(٤) مرجئه داهل سنت او جماعت دمخالفو ډلو څخه يوه ډله ده، او عقيده لري چي ايمان يوازي دزړه تصديق او عقيدی ته وايي،=

هغه چا قول بیان کړم چې وايي: لمونځ دایمـــان (لـــه جملي) څخه نـــدی»[(١)].

## د- دصحابه وو په باره کې دامام مـــالك اقـــوال:

(١) ابو نعیم له عبد الله عنبري[(٢)] نه نقـــل کـــوي وایـــي: «مالك بن انـــس وایـــي: څـــوك چـــي دپیغمـــبر ﷺ داصحابو بد ووايي، نو هغه په زړه کې لـــه هغـــوی سره دښمني لري، نو (لدی وجهي) دمســـلمانانو پـــه غنیمت کې برخه نلري، او بیا یـــي دخـــدای ﷻ دا قول تلاوت کـــړ: ﴿والذیـــن جـــاءوا مـــن بعدهـــم

---

او گناهونه دمؤمن ایمان ته هیح زیان نه رســـوي، او بیلـــه عملـــه څخه ایمان دجنت لپاره کافي دی، او مؤمنـــانو کـــه هـــر څومـــره گناهونه کړي وي و دوزخ ته نه ځـــي. (ژبـــاړونکی)

(١) الانتقـــاء ٣٤ صفحـــه.

(٢) هغه عبد الله بن سوار بـــن عبـــد الله العنـــبري البصـــري القـــاضي دی، ابن حجر دهغه په باره کـــې وایـــي: «ثقـــة، پـــه ٢٢٨هــــ کال کې وفات شوی دی»، او دوفات دکال په بـــاره کـــي نـــور اقـــوال هم شتـــه.

تقریـــب التـــهذیب ١/٤٢١، او تهذیـــب التـــهذیب ٥/٢٤٨ دي وکتـــل شـــي.

﴿يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا﴾[(١)]، نو څوك چي دهغوی بد ووايي او يا په زړه کي ور سره دښمني ولري، دمسلمانانو په غنيمت کي برخه نه لري»[(٢)].

(٢) او ابو نعيم دزبير[(٣)] داولادو ديو کس څخه نقل کوي وايي: «موږ دمالك سره وو چي ديو چا نوم ياد شو چي دپيغمبر ﷺ داصحابو بد يي ويل، مالك دا آيت ووايه: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ

---

(١) دالحشر سورت، ١٠ آيت، ترجمه: «هغه کسان چي ورروسته لدوی نه راغلل وايي: ای زموږ ربه زموږ گناهونه وبخښه، او هغو کسانو ته چي زموږ نه مخکي مؤمنان تير شوي دي، بخښنه وکړه، او زموږ په زړونو کي دهغوی دښمني مه اچوه».

(٢) الحلية ٣٢٧/٦ .

(٣) هغه دمالك سره وو، او له هغه نه يي حديث اوريدلي دي، دزبير بن عوام له اولادی څخه دی، نوم يي: عبد الله بن نافع بن ثابت بن عبد الله بن الزبير بن عوام دی، تعريف يي مخکي تير شوی دی.

مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ -حتى بلغ- يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ﴾[١]، او بيا يې وويل: دچا په زړه کې چې دپيغمبر ﷺ داصحابو سره دښمني وي دا آيت دهغه په باره کې صدق کوي»[٢].

(٣) قاضي عياض له اشهب بن عبد العزيز نه نقل کوي وايي: «موږ دمالك سره وو چې دعلويانو[٣] نه يو څوك ورته راغلی -او هغوی (علويان) به دده مجلس ته حاضريدل- او آواز يې ورته وکړ: چې ای ابو عبد الله، نو مالك خپل سر را پورته کړ، علوي ورته وويل: زه غواړم چې تا دخپل

---

(١) دالفتح سورت، ٢٩ آيت، ترجمه: «محمد دخدای ﷻ پيغمبر دی، او هغه کسان چې لده سره دي له کفارو سره ډير سخت او پر مسلمانانو باندي مهربانه دي -د آيت تر آخره پوري-».

(٢) الحلية ٦/٣٢٧ .

(٣) علويان داهل تشيع څخه يوه ډله ده. (ژباړونکی)

ځان او خدای ﷻ په مینځ کـــي حجـــت او شـــاهد وګرځوم، کله چــي خـــدای ﷻ تـــه ورشـــم او را ځخه وپوسيټ، نو زه به ورته ولیم چــي مـــالك ماتـــه (همداسي) ويلـــي دي.

مالك ورته وويل: ووايه (څه ويل غـــواړی).

ويل بې: وروسته له پيغمبر ﷺ نـــه غـــوره دخلکـــو څـــوك دی؟

(مالك) ويل: ابـــو بكـــر، علـــوي ويـــل: وروســـته څوك؟ (مالك) ويل: عمر، علـــوي ويـــل: وروســـته څوك؟ (مالك) ويل: عثمان، هغه خليفـــه چـــي پـــه ظلم سره وژل شوی دی، علوي ويـــل: پـــه خـــدای ﷻ مي قسم دی چي بيا به هيڅ كله هـــم لـــه تـــا ســـره نه کښـــينم»[1].

---

(١) ترتيب المـــدارك ٢/٤٤-٤٥ .

## هـ- امام مالك په دين كي لـه (بيځايـه) خصومـت او بحث كولو نه منع كـوي:

(١) ابن عبد البر له مصعب بن عبد الله زبيري[1] نه نقل كوي وايي: «مالك بن انس وايي: ددين په باره كي (بيهوده او بيځايه) بحث كول مكروه گنم، لكه: دجهم بن صفوان[2] او قدريه وو او نورو دافكارو په باره كي (بحث كول)، او زموږ دښار خلكو هم همدا بده گڼله او له هغه نه يي منعه كوله، او بيله هغه مسائلو چي په عمل پوري مربوط وي، په نورو مسائلو كي بحث كول صحيح ندي، او ددين او دخداى ﷻ دذات په

---

(١) هغه مصعب بن عبد الله بن مصعب بن ثابت بن عبد الله بن الزبير بن العوام الأسدي، المدني، نزيل بغداد، دى، ابن حجر دهغه په باره كي وايي: «الصدوق، عالم بالنسب، په ٢٣٦هـ كال كي وفات شوى دى».
تقريب التهذيب ٢/٢٥٢، او تهذيب التهذيب ١٠/١٦٢ دي وكتل شي.

(٢) جهم بن صفوان دقدريه ډلي مؤسس دى، او په ٢١٨هـ كال كي وفات شوي دى. (ژباړونكى)

باره کې وماته سکوت اختيــاروول بهــتره ښــکاري، ځکه زه وينم چې زموږ دښــار علمــاء ددين پــه باره کې له بحث کولو نه منع کــوي، مــګر هغــه مسائل چې په عمل پوري مربــوط وي»[(١)].

(٢) او ابو نعيم له عبد الله بن نافع نه نقل کــوي وايــي: «له مالك نه مي واوريدل چــې وايــي: کــه څــوك تولي کبيره ګناوي هم وکړي، خو له شرك نــه يــې ځان ساتلی وي، او له دا بدعتونــو نــه لــيري پاتــه شوی وي، -او يو بل څه بې هم وويــل- نــو (بيــا به هم) جنت ته داخل شــي»[(٢)].

(٣) او هروي له اسحاق بن عيســی[(٣)] نــه نقــل کــوي

---

(١) جــامع بيــان العلــم وفضلــه ٤١٥ صفحــه، ددار الکتــب الاســلامية چــاپ.

(٢) الحــلية ٦/٣٢٥ .

(٣) هغه اسحاق بن عيسى بن نجيح البغدادي دی، ابــن حجــر دهغــه په باره کې وايي: «صدوق، پــه ٢١٤هـــ کــال کــې وفــات شــوی دی».

وايي: «مالك وايي: څوك چې دعلم كلام له لاري نه ددين پلټنه وكړي هغه (په حقيقت كې) زنديق دى، او څوك چې دكيمياء دعلم[(١)] په واسطه پيسي لاس ته راوړل وغواړي هغه (په حقيقت كې) مفلس دى، او څوك چې نا آشنا احاديث لټوي هغه (په حقيقت كې) درواغجن دى»[(٢)].

(٤) او خطيب له اسحاق بن عيسى نه نقل كوي وايي: «له مالك نه مي واوريدل چي ددين مسائلو په باره كي بحث و مجادلي كول يې بد گانه، او ويل يې: هر كله چي په بحث او مجادله كولو كي

---

تقريب التهذيب ١/٦٠، او تهذيب التهذيب ١/٢٤٥ دي وكتل شي.

(١) د كيمياء علم هغه علم ته وايي چي گمان كيږي دهغه په واسطه سره خاوره او اوسپنه او داسي نور شيان په سرو زرو بدليدلاى شي. (ژباړونكى)

(٢) ذم الكلام (ق ١٧٣-أ).

ماهر سړی ماته راشي نو هغه (په حقيقت کـــي) لــه موږ نه غواړي هغه څه چي جــبريل پــر پيغمــبر ﷺ نازل کړي دي شاته وغورځوو او پــري ايــزدو»[١].

(٥) او هروي له عبد الرحمن بن مهدي نــه نقــل کــوي وايي: «ومالك ته ورغلم او دده ســره يــو څــوك وو چي پوستنه يي ځني کولـــه، مــالك ورتــه وويــل: شايد چي دعمرو بن عبيد له ملـــگرو نــه بــه يــي؟ لعنت دخدای ﷻ دي پــر عمــرو بــن عبيــد وي، ځکه هغه وو چي دا دبحث کولـــو بدعــت (يعــني علم کلام) يي مينځ ته راوړ، او کــه چــيري کــلام (يعني په دين کي بيځايه بحث کول) علــم وای، نــو صحابه وو ﷺ او تابعينو به پـــه هغــه کــي برخــه اخيستې وای او توجه به يي ورته کــړی وای، لکــه څنگه چي يي و ديني او شرعي مســـائلو تــه خپلــه

---

(١) شرف اصحاب الحديث ٥ صفحـــه.

توجــه اړولی وه»[1].

(٦) او هروي له اشهب بن عبد العزیز نـــه نقــل کــوي وايي: «له مالك نه مي واوریــدل چــي وایــي: لــه بدعتونو نه لیري اوسی، چا ورتـــه وویــل چــي ای ابو عبد الله بدعت څه تــه وایــي؟ ویــل: دبدعــت خاوندان هغه دي چي دخـــدای ﷻ پــه نومونـــو، صفاتو، کلام، علم، اوقدرت کي خــــبري او بحــث کوي، او هغه حه چي صحابه وو او تابعینــــــو یــي له بحث کولو نه ډډه کړیده، (دا کســــان) ځــني ډډه نــه کــوي»[2].

(٧) او ابو نعیم له شافعي نه نقــل کــوي وایــي: «کلــه چي به له بدعت کارانو نه یـــو څــوك مــالك تــه راغی، (نو مالك به) ورتــه وویــل: زه دخــدای ﷻ په واضح او ښـــکاره حجــت (لاره، او دهغــه پــه

(١) ذم الکـــلام (ق ١٧٣-ب).
(٢) ذم الکـــلام (ق ١٧٣-أ).

دين) باندی (يقين لرم) او پر هغه ټينګ ولاړ يم، او ته (د خدای ﷻ) په دين کي شک لرى، نو (ستا په شان) بل شک لرونکي ته ورشه او ورسره بحث او خبري وکړه»[1].

(٨) ابن عبد البر له محمد بن احمد بن خويز منداد مصري مالکي نه نقل کوي چي هغه په خپل کتاب «الخلاف» د«الاجارات» په بحث کي وايي: «مالك وايي: و مبتدعينو او نجوميانو[2] ته دکتابونو په کرايه ورکول او دهغوی نه اخيستل روا ندي، -او دځه کتابونو نومونه يي واخيسته- او بيا يي وويل: چي دمبتدعينو کتابونه زموږ دمذهب دعلماوو په نزد داهل کلام لکه: معتزله

---

(١) الحلية ٣٢٤/٦ .

(٢) مبتدع دبدعت خاوند ته وايي، او بدعت دى ته وايي چي په دين کي داسي نوي خبري او کارونه را پيدا کړل شي چي له هغه نه مقصد دخدای ﷻ عبادت کول او و هغه ته نژديکت او ثواب حاصلول وي، خو هغه کارونه پيغمبر ﷺ او صحابه وو نه وي کړي. (ژباړونکی)

او نورو ډلو دکتابونو په شان دي، چــې پــه کرایــه ورکول او اخیستل یې فســخ او باطـــل دي»[(١)].

دا وه دامام مالك داقوالو يو مجموعــه چــې دتوحيــد، او صحابه وو ﷺ، او ايمان، او علم كلام په باره كــې مــو لــه هغه نه نقل او بيان كړه، (چې دده نظر څرگنــد كــړ).

---

(١) جامع بيــان العلــم وفضلــه صفحــه ٤١٦، ٤١٧، ددار الكتــب الاســلامية چــاپ.

# څلورم مبحث

## د امام شافعي رحمة الله عليه عقيده

### أ– د توحيد په باره كي دامام شـــافعي اقــوال:

(١) بيهقي له ربيع بن سليمان نـــه نقـل كـوي وايـي: «شافعي وايي: حوك چـي پـه خـداى ﷻ او يـا دهغه په نامه قسم يـاد كـري او بيـا وفـا پـري ونكړي، نو كفاره[1] پري لازميږي، او كـه چـيري دخداى ﷻ نه پرته په بل شـي قسـم يـاد كـړي، لكه چي ووايي: (زما دي) پـه كعبـه قسـم وي، او (زما دي) په پلار قسم وي، او بيا په (خپـل قسـم) وفا ونكړي، نـو كفـاره نـه پـري لازميږي، او همدارنگه څوك چي په خپل عمر قسـم يـاد كـړي ... كفاره نده پـري لازمـه، ځكـه چـي دا پـه

(١) دقسم كفاره داده، چي په قسم وفاء ونكړي، نو بيا بـه يـا لسـو كسانو ته خواړه وركوي، او يا به كالي وركوي، او يـا بـه يـو مريي آزادوي، او كه دا دري شيان يي له وسه نـه وه پـوره نـو بيا به دري ورځي روژه نيسي. (ژبـاړونكى)

خدای ﷻ سره قسم ندی، او (دا نوع قسم) مکروه دی او پیغمبر ﷺ ځني منع کړی ده، (لکه چي فرمايي): «په يقين سره خدای ﷻ لدی نه منع کړي ده چي په خپلو پرونو څوك قسم ياد کړي، که څوك غواړي چي قسم ياد کړي، نو بايد چي په خدای ﷻ قسم ياد کړي او يا دي سکوت اختيار کړي»[1] ..»[2].

او دامام شافعي په نظر ددی منعي علت دادی چي دخدای ﷻ نومونه مخلوق ندي، او څوك چي په خدای ﷻ قسم ياد کړي او په هغه وفا ونکړي، کفاره پر لازمه ده[3].

---

(١) دا حديث بخاري په كتاب الأيمان والنذور، باب لا تحلفوا بآبائكم ١١/٥٣٠، او مسلم په كتاب الأيمان، باب النهي عن الحلف بغير الله ١٢٦٦/٣، ح ١٦٤٦ کي روايت کړی دی.

(٢) مناقب الشافعي ٤٠٥/١ .

(٣) دا اثر ابن ابي حاتم په آداب الشافعي ١٩٣ صفحه، او ابو نعيم په الحلية ١١٢/٩-١١٣، او بيهقي په السنن الكبرى-

(٢) ابن قيم په خپل كتاب (اجتماع الجيوش الاسلامية) كي له شافعي نه نقل كوي چي هغه وايي: «د سنت موافق خبره (عقيده) چي زه په هغه معتقد يم، او زموږ دمذهب علماء او كوم اهل حديث چي ما ليدلي لكه: سفيان او مالك او نور هم په هغه معتقد دي، عبارت ده له: اقرار كول په كلمه دلا اله الا الله محمد رسول الله، او دا چي خداى ﷻ په آسمان كي پر خپل عرش دى، او خپلو بندګانو ته څنګه چي وغواړي نژدي كيږي، او دا چي خداى ﷻ ددنيا آسمان ته څنګه چي وغواړي را ښكته كيږي»[1].

---

١٠/٢٨، او په الاسماء والصفات ٢٥٥-٢٥٦ صفحه، او بغوي په شرح السنة ١/١٨٨ كي روايت كړى دى، او همدارنګه دي العلو ١٢١ صفحه، او مختصر الاسماء والصفات ٧٧ صفحه هم وكتل شي.

(١) اجتماع الجيوش الاسلامية ١٦٥ صفحه، او اثبات صفة العلو ١٢٤ صفحه، او مجموع الفتاوى ٤/١٨١-١٨٣،-

(٣) او ذهبي له مزني نه نقل کوي وايي: ما ويل داسي ځوك چي کومه مسأله چي دتوحيد په باره کي زما په ذهن کي ګرځي، په هغه پوه شي، نو هغه به شافعي وي، نو هغه ته ورغلم پداسي حال کي چي هغه دمصر په مسجد کي وو، او مخي ته يي په دوو زنګنونو کښيناستم، او ورته ومي ويل: کوم څه چي دتوحيد په باره کي زما په ذهن کي ګرځي او دهغه په باره کي فکر کوم، او زه پوهيږم چي ستا په اندازه علم بل څوك نلري، نو دهغه په باره کي ستا سره څه دي؟ (شافعي) په غضب شو او ويي ويل: آيا ته پوهيږى چي چيرته يي؟ ما ويل: هو، ويل يي: دا هغه ځاى دى چي خداى ﷻ فرعون پکښي غرق کړى دى، آيا پيغمبر ﷺ (د کومي مسألي) په باره کي (چي ستا

---

او العلو دذهبي تأليف ١٢٠ صفحه، او مختصر العلو دالباني تأليف ١٧٦ صفحه .

په ذهن کي ده) دسوال کولو امــر کــړی دی؟ مــا ویل: نه، ویل یې: آیا صحابــه وو دهغــه پــه بــاره کي څه ویلي دي، ما ویــل: نــه، ویــل یــې: آیــا پوهیږی په آسمان کي څو ســتوري دي؟ مــا ویــل: نه، ویل یې: آیا ددغه ســتورو څخــه دکــوم یــوه جنسیت، راختل، او پریوتل، او دا چي لــه څــه نــه پیدا شوي دی، در ته معلــوم دی؟ مــا ویــل: نــه، ویل یې: نو کوم شی چي مخلــوق دی او پــه خپلــو سترگو یې وینې دهغه په بــاره کــي پــه څــه نــه پوهیږی، او بیا ته دهغه دخالق دعلم پــه بــاره کــي خبري کوي؟ بیا یې داوداسه یــوه مســأله را څخــه وپوښتل، زه په پوه نشوم، او بیا یې هغــه پــه څلــور شکله تقسیم کړه او دهر یوه پوښــتنه یــي را څخــه وکړه، صحیح جواب مي ور نه کــړای شــو، بیــا یې وویل: کوم شي ته چــي پــه ورځ کــي پنځــه واره ضرورت لــری، دهغــه زده کــړه دي پــري ایښي، او په ډیره سختي او مشــکله ســره کوښــښ

کوي چــې دخــدای ﷻ دعلــم پــه بــاره کــې معلومات لاس ته راوړی، پدی چې ســتا پــه ذهــن کې دهغه په باره کې سوال پیــدا شــوی؟ نــو تــه دخدای ﷻ دی قــول تــه رجــوع وکــړه چــې فرمــایي: ﴿وَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ لا إِلَـٰهَ إِلا هُوَ الرَّحْمَـٰنُ الرَّحِيمُ ۞ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ.. ﴾ الآية[1]، او مخلوق دهغه پــر خــالق او پیدا کونکي دلیل وګڼه، او څــه چــې ســتا عقــل دهغه له پوهیدلو نه عاجز وي، دهغه پــه بــاره کــې تکلف (او بیځایه پلټنه) مه کــوه»[2].

---

(١) دالبقرة ســورت، ١٦٣-١٦٤ آیــت، ترجمــه: «او ستاســو خدای ﷻ یو دی، هیڅ څوك دعبــادت وړ بیلــه رحمــن او رحیم خدای ﷻ نه نشته، پــه رښــتیا چــې دآسمــانونو او ځمکو (... ددی آیت تر آخره پوري) کــې (د خــدای ﷻ دوحدانیت) نښې نښــانې دي».

(٢) سیر اعلام النبــلاء ٣١/١٠ .

(٤) او ابن عبد البر له یونس بن عبد الاعلی[(١)] نه نقل کوي وایي: «له شافعي نه مي واوریدل چي وایي: (که څیري) مو له چا نه واوریدل چي وایي: اسم بیله مسمی نه بل څه دی، او یا شیء (چي اطلاق يي پر خدای ﷻ باندي کیږي) بیله شيء نه بل څه دی، نو تاسو پر هغه باندي شاهد اوسی چي هغه (د زندیق) عقیده لري»[(٢)].

(٥) او شافعي په خپل کتاب الرسالة کي وایي: «او حمد و ثنا خدای ﷻ لره ده.. کوم (ذات لره) چي خپله يي خپل ځان دخپل شان سره سم توصیف کړی دی، اوله کوم (وصف) نه چي مخلوق يي ورته نسبت کوي، (ډير) لوړ او

(١) هغه یونس بن عبد الاعلی بن میسرة الصدفي الصمیري دی، ابن حجر دهغه په باره کي وایي: «ثقة، من صغار العاشرة، په ٢٦٤هـ کال کي وفات شوی دی».
تقریب التهذیب ٣٨٥/٢، او شذرات الذهب ١٤٩/٢، او طبقات الشافعیة لابن هدایة الله ٢٨ صفحه دي وکتل شي.

(٢) الانتقاء ٧٩ صفحه، او مجموع الفتاوی ١٨٧/٦ .

مُـــبرّا دی»[۱].

(٦) او ذهبي په خپل کتاب سیر اعلام النبـــلاء کـــي لـــه شافعي نه نقل کوي چي وایي: «کوم صفـــات چـــي قرآن او حدیث راوړي، هغه ثـــابتوو (او منـــو یـــي)، او (د مخلوق سره) شباهت ځـــني نفـــي کـــوو لکـــه څنګه چي يې خپله نفي کـــړی او فرمـــایي: ﴿لَيْـــسَ كَمِثْلِهِ شَـــيْءٌ﴾[۲]»[۳].

(۷) او ابن عبد البر له ربیع بن سلیمان نـــه نقـــل کـــوي وایي: «له شافعي نه مـــي واوریـــدل چـــي دخـــدای ﷻ ددغه قول: ﴿كَـــلاَّ إِنَّـــهُمْ عَـــنْ رَبِّـــهِمْ يَوْمَئِـــذٍ لَمَحْجُوبُونَ﴾[٤]، په باره کي يې ویـــل: خـــدای ﷻ

---

(۱) الرســـالة ۷-۸ صفحـــه.

(۲) دالشوری سورت، ۱۱ آیت، ترجمه: «دده دمثـــل پـــه شـــان هیح شی نشتـــه».

(۳) الســـیر ۲۰/۳٤۱ .

(٤) دالمطففین سورت، ۱۵ آیت، ترجمه: «هیڅ کله داســـي نـــده (چي کفار وایي)، بلکه هغـــوی دقیـــامت پـــه ورځ دخپـــل رب له لیدلو نه محـــروم دی».

موږ ته په دی آيت کـي ارشـاد کـوي چـي پـه آخرت کي يوه ډله دخدای ﷻ له ليدلو نه نـه منـع کيږي (بلکه هغه به ويني، او په ليدو کـي بـه يـي شك نه کـوي)»[1].

(۸) لالکائي له ربيع بن سليمـان نه نقل کـوي وايـي: «د محمد بن ادريـس شـافعي سـره وم چـي لـه صعيد[2] نه ورته يو ليك راغـی او پکښـي ليکلـي وه: چي دخدای ﷻ ددی قول په بـاره کـي څـه وايي چي فرمايي: ﴿كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴾[3]؟ شافعي ورويـل: کلـه چـي دوی دغضب په حالت کي دخـدای ﷻ لـه ليدلـو نـه محروم شول، نو دا پـر دی خـبري دلالـت کـوي چي درضائيت په حالت کـي هغـه (خـدای ﷻ) ويني، ربيع وايي: ما ويل: ای ابو عبـد الله تـه پـدی

(۱) الانتقـاء ۷۹ صفحـه .
(۲) په مصر کي ديو منطقی نـوم دی. (ژبـاړونکی)
(۳) دالمطففين سورت، ۱۵ آيت، او ترجمه يي تـيره شـوه.

قول عقیده لری؟ ویـل یـي: هـو، زه همـدا قـول (عقیده) دخدای ﷻ دعبادت (وسـیله) گنـم»[١].

(٩) او ابن عبد البر له جارودي[٢] نه نقل کـوي وایـي: «د شافعي وراندي دابراهیم بن اسماعیل بـن علیـه[٣] نوم یاد شو، وبي ویل: زه دهغـه سـره پـه ټولـو شیانو کي مخالف یم حـتی دلا الـه الا الله پـه ویلـو کي دهغه خبره نـه اخلـم، (څکـه چـي) زه وایم:

---

(١) شرح اصول اهل السـنة والجماعـة ٢/٥٠٦ .

(٢) شاید هغه به موسی بن ابي الجارود وي، ابـن حجـر دهغـه په باره کي وایي: «د شافعي له ملـگرو او شـاگروانـو نـه دی او له هغه نه روایت کوي»، ابن هبة الله دهغـه پـه بـاره کي وایي: «په مکه کي بي دشافعي دمذهـب موافـق فتـوی ورکول، دوفات تاریخ یي معلوم نـدی».
تهذیب الاسماء واللغات ٢/١٢٠، او طبقات الشـافعي لابـن هدایة الله ٢٩ صفحه دي وکتل شـي.

(٣) هغه ابراهیم بن علیه دی، ذهبي دهغـه پـه بـاره کـي وایـي: «جهمي هالك، بحث او جدل به یي کاوه، او ویل به یـي چـي قرآن مخلوق دی، په ٢١٨هـ کال کي وفـات شـوی دی».
میزان الاعتـدال ١/٢٠، او لسـان المـیزان ١/٣٤-٣٥ دي وکتـل شـي.

بيله خداى ﷻ نه بل دعبادت ور معبود نشته، (هغه ذات) چې له موسى عليه السلام سره يې (د پردې تر شا) خبرې كړې، او (پداسې حال كې چې ) هغه (ابراهيم بن اسماعيل بن عليه) وايي: بيله خداى ﷻ څخه بل دعبادت وړ معبود نشته، (هغه ذات) چې خبرې يې پيدا (خلق) كړې او دپردې له شا نه يې و موسى ته واورولې (يعنې دكلام له صفت نه منكر دى)»[۱].

(۱۰) او لالكائي له ربيع بن سليمان نه نقل كوي وايي: «شافعي وايي: څوك چې ووايي: قرآن مخلوق دى هغه كافر دى»[۲].

(۱۱) بيهقي له ابو محمد زبيري نه نقل كوي وايي: «چا شافعي ته وويل: ما ته ووايه چې قرآن خالق دى؟

---

(۱) الانتقاء ۷۹ صفحه، او دا قصه حافظ ابن حجر دمناقب الشافعي دذهبي تأليف نه په لسان الميزان ۳۵/۱ كې نقل كړې ده.

(۲) شرح اصول اهل السنة والجماعة ۲۵۲/۱ .

ویل يې: نه، ویل: نو مخلــوق دی؟ ویــل یــې: نــه، ویل: نو غیر مخلوق دی؟ ویل يې: هــو، ویــل: څــه دلیل پر دی خبره شته چې مخلــوق نــدی؟ شــافعي سر را پورته کړ او ویې ویــل: پــدی اقــرار کــوی چې قرآن دخـــدای جَلَّ جَلالُهُ کــلام دی؟ ویــل: هــو، شافعي وویل: دا خبره ستا نه مخکـــې ویــل شــوی ده، خـــدای جَلَّ جَلالُهُ فرمـــایي: ﴿وَإِنْ أَحَـــدٌ مِـــنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَـــأَجِرْهُ حَتَّـــى يَسْـــمَعَ كَـــلامَ اللَّـــهِ﴾[١]، و فرمـــايي: ﴿وَكَلَّـــمَ اللَّـــهُ مُوسَـــى تَكْلِيماً﴾[٢]، شافعي ویل: نو آیـــا تـــه پــدی اقــرار کوي چې خدای جَلَّ جَلالُهُ وو او کلام یـــې هــم وو؟ او یا دا چې خـــدای جَلَّ جَلالُهُ وو او کــلام یــې نــه وو؟

---

(١) دالتوبه سورت، آیت ٦، ترجمه: «او که لـــه مشـــرکینو نـــه حوك له تا نه پناه وغواري، نو پناه ورتـــه ورکـــره تـــر څـــو دخدای جَلَّ جَلالُهُ کـــلام واوري».

(٢) دالنساء سورت، ١٦٤ آیت، ترجمـــه: «او خـــدای جَلَّ جَلالُهُ لـــه موسی سره خبري وکـــړي».

سړي وويل: بلکه خدای وو او کلام يــي هــم وو.
(راوي) وايي: شافعي وخنــدل او ويــي ويــل: ای
د کوفې خلګو، تاسو مــوږ تــه خطرنــاکي خــبري
راوړی، پداسي حال کي چي پدی اعــتراف کــوی
چي خدای له هر شــي نــه مخکــي موجــود وو او
کلام بي هم وو (يعني د کلام صفــت ورتــه پــه ازل
کي ثابت وو)، نو بيا مو دا خبره له کومــه را پيــدا
کړه: چي کلام دخدای عين ذات دی او کــه غــير
له ذات نه بل څه دی؟ راوي وويــل: چــي ســړی
چوپ پاتي شو او دبــاندي ووت»[1].

(١٢) او داعتقاد په هغه برخــه کــي چــي وشــافعي تــه
منسوبه ده له ابو طالب عشاري[2] نــه نقــل شــوی

---

(١) مناقب الشــافعي ١/٤٠٧-٤٠٨ .

(٢) هغه محمد بن علي العشاري شيخ، صــدوق، معــروف، دی، او دا قصه يوازي هغه روايت کری ده، او دا هغــه څــه دی چي پر ده باندی داخل شوی، او ده په پاك نيت ســره نقــل کړي دي، لکه څنګه چي ذهبي پــه المــيزان ٣/٦٥٦ کــي ويلي دي، ليکن دسلف صالح نه بعضو لکــه: موفــق ابــن-

دی چې وايي: «او لـــه (شـــافعي) نـــه دخـــدای ﷻ دصفاتو او هغه څه په باره کې چې بـــايد ايمـــان پـــر راوړو پوښتنه وشوه، (هغه) وويل: «خـــدای ﷻ لـــره (داسي) نومونه او صفتونه شته چـــې کتـــاب (قـــرآن) هغه بيان کړي دي، او پيغمبر ﷺ خپل امت لـــه هغـــه نه خبر کړی دی، او دخدای ﷻ لـــه بنـــدګانـــو نـــه هيڅ چا ته روا نـــدي چـــې دهغـــه شـــيانو مخـــالفت وکړي چې پوه شي چې هغه قـــرآن بيـــان کـــړي، او صحيح حديث يې په باره کـــې راغلـــی دی، او کـــه

---

قدامة په العلو ۱۲٤ صفحـــه کـــي، او ابـــن ابي يعلـــی پـــه الطبقات ۲۸۳/۱ کي، او ابن القيـــم پـــه اجتمـــاع الجيـــوش الاسلامية ۱٦٥ صفحه کي، او خپله ذهبي پـــه ســـير اعـــلام النبلاء ۷۹/۱۰ کي پر هغه ټـــه اعتمـــاد کـــړی دی کـــوم چې په دغه عقيده کي راغلـــي دي.
او دا ليك چې زه يې بالحرف را نقلوم، پر امام حـــافظ ابـــن نصر دمشقي باندي قراءت شوی دی، او ابـــو يعلـــی هغـــه مکمل په خپل کتاب طبقات کـــي نقـــل کـــړی دی، او زه به ددوی دواړو تر منځ فرقونه ثابت کـــړم.

چيري مخالفت وکړي نو هغه په خـــداى ﷻ بـــاندى کافر دى، اما مخکي لدى نه چي شرعي دليـــل ورتـــه ورسيږي او ورته ثابت شي (کـــه مخـــالفت وکـــړي) نو هغه معذور شميرل کيږي، ځکه چـــي دا شـــيان (د خداى ﷻ نومونه او صفات) د(انســـــان) پـــه خپـــل عقل او فهم ســـره دادراك او پوهيدلـــو وړ نـــدي، او دا هغه شيان دي چي خداى ﷻ له هغـــه نـــه بيـــان کړي دي (او ويلي يې دي چي) هغه (يعـــني خـــداى ﷻ): اوريدونکى دى، (او) دوه لاســـونه لـــري لکـــه چي فرمايي: ﴿بَـــلْ يَـــدَاهُ مَبْسُـــوطَتَانِ﴾[1]، او هغـــه ښـــى لاس (يمين) لـــري لکـــه چـــي فرمـــايي: ﴿وَالسَّماوَاتُ مَطْوِيَّـــاتٌ بِيَمِينِـــهِ﴾[2]،او هغـــه مـــخ (وجه) لري، لکه چي فرمايي: ﴿كُـــلُّ شَـــيْءٍ هَـــالِكٌ

(١) دالمائدة سورت، ٦٤ آيت، ترجمه: «بلکـــه دوه لاســـونه يـــي غزولى او پـــراخ دي».
(٢) دالزمر سورت، ٦٧ آيت، ترجمه: «او آسمانونه دده پـــه ښـــي لاس (يمين) کي نغښتـــي دي».

إِلاَّ وَجْهَهُ﴾(۱)، او فرمايي: ﴿وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلاَلِ وَالإِكْرَامِ﴾(۲)، او هغه پښه (قدم) لري، لکه چي پيغمبر ﷺ (د دوزخ په باره کي) فرمايي: «ترڅو چي خداى ﷻ خپله پښه په هغه کي کښيږدي»(۳) يعني په دوزخ کي، [او خداى ﷻ خپل مؤمن بنده ته خاندي](٤) نظر پدى قول

(۱) دالقصص سورت، ۸۸ آيت، ترجمه: «او بيله دهغه (خداى ﷻ) له مخ (وجه) نه نور ټول شيان له مينځه تلونکي دي».

(۲) دالرحمن سورت، ۲۷ آيت، ترجمه: «او ستا درب مخ (وجه) باقي پاتي کيږي، چي خاوند دعظمت او لويوالي دى، او عزت ورکونکى دى».

(۳) دا حديث بخاري په کتاب التفسير، باب «وتقول هل من مزيد» ۸/۵۹٤، ح ٤۸٤۸، او مسلم په کتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها، باب النار يدخلها الجبارون والجنة يدخلها الضعفاء ٤/۲۱۸۷، ح ۲۸٤۸ دواړو له قتادة له انس بن مالك نه روايت کړى دى.

(٤) دمربع قوسونو په مينځ کي عبارت له مؤلف نه په همدى رساله کي پاته شوى او له اصلى مصدر نه يي ندى نقل کړى، او همدارنګه دده ددکتوراه په رساله (اصول=

دپيغمبر ﷺ چي دهغه چا په باره كي وايي چي دخداى ﷻ په لاره كي شهيد شوى وو: «خداى ﷻ بي په داسي حال كي وليد چي ورته خندل بي»[(١)]، او هغه هره شپه ددنيا آسمان ته را ښكته كيږي، دليل بي دپيغمبر ﷺ هغه قول دى چي پدى باره كي راغلى دى، او هغه په يوه سترگه روند ندى، دليل بي دپيغمبر ﷺ هغه قول دى چي ددجال په باره كي وايي: «او هغه (دجال) په يوه سترگه روند دى، او ستاسو رب په يوه سترگه

---

الدين عند الإمام أبي حنيفة) كي هم ددى عبارت ذكر ندى شوى، او ما نومړى عبارت له اصلي مصدر يعني دابن ابو يعلى له كتاب (الطبقات) نه نقل كړى دى. (ژباړونكي)

(١) دا حديث بخاري په كتاب الجهاد باب الكافر يقتل المسلم ٣٩/٦، ح ٢٨٢٦، اومسلم په كتاب الإمارة، باب الرجلين يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة ١٥٠٤/٣، ح ١٨٩٠، دواړو له اعرج له ابو هريرة نه روايت كړى دى.

ړوند ندی»[١]، او مؤمنان خپل خــدای ﷻ دقیــامت په ورځ داسي ويني لکه دڅوارلســـمي ســپوږمی تــه چي ګوري، او هغه ګوته (اصبع) لـــري، دليـــل يـــي دپيغمبر ﷺ دا قول دی چي فرمـــايي: «هيـــڅ يـــو زړه (د انسان) داســـي نشـــته مـــګر دا چـــي دمهربانـــه (خدای ﷻ) ددوو ګوتو تر مينـــځ وي»[٢].

---

(١) دا حديث بخاري په کتـــاب الفـــتن، بـــاب ذکـــر الدجـــال ٩١/١٣، ح ٧١٣١، او مسلم پـــه کتـــاب الفـــتن وأشـــراط الساعة، باب ذکـــر الدجـــال وصفتـــه ٢٢٤٨/٤، ح ٢٩٣٣ دوارو له قتادة له انس بن مالك نه روايـــت کـــړی دی.

(٢) ددی لفظ په شان احمد په المسند ١٨٢/٤، او ابن ماجـــه پـــه المقدمة، باب فيمـــا أنکـــرت الجهميـــة ٧٢/١، ح ١٩٩، او حاکم په المستدرك ٥٢٥/١، او آجـــري پـــه الشـــريعة ٣١٧ صفحه، او ابن منده په الرد على الجهميـــة ٨٧ صفحـــه کـــي تولو له نواس بن سمعان نه روايت کړی دی، حـــاکم دهغـــه په باره کي وايي: «صحيح على شرط مســـلم و لم يخرّجـــاه»، او ذهبي په التلخيص کي هغه تأييد کړی دی، او ابـــن منـــده دهغه په باره کي وايي: «د نواس بن سمعـــان حديـــث ثـــابت دی، او مشهورو امامانو چي هيڅ نوع اعـــتراض پـــر هغـــو نشته، دا حديث روايت کـــړی دی».

او دا صفات او نعتونه چې خدای ﷻ خپل ځان په هغه موصوف کړی دی، او پیغمبر ﷺ دهغه وصف پدی (صفاتو) کړي دی، دا هغه شیان دي چې حقیقت یې په (انساني) فکر او فهم سره قابل دادراك نه دی، او د(دی شیانو) په نه پوهیدلو سره (تر هغه) څوك نه کافر کیږي، تر څو ورته دهغو خبر -(دده په نزد سره په ثابت آیت او حدیث سره)- هغه ته ورسیږي، نو هغه څه چې ده ته رسیدلي دي که هغه داسې خبر (آیت او یا حدیث) وي چې فهم یې (داسې روښانه وي) لکه چې دهغه خبر راوي (او نقل کوونکی) یې (پخپله) لیدلی وي او ځني اوریدلي یې وي، نو پر هغه باندې فرض ده چې په هغه باندي داسې عقیده وکړي لکه چې (خپله) یې دپیغمبر ﷺ نه اوریدلي او لیدلي وي، لیکن موږ دا صفات (الله تعالی ته) په هغه ډول ثابتوو او (د مخلوق سره) مشابهت ځني نفي کوو، لکه څنګه

چي خدای ﷻ هغه له خپل حان نــــه نفـــي کـــړي دي، لکه چي فرمايي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِـــهِ شَـــيْءٌ وَهُـــوَ السَّـــمِيعُ الْبَصِـــيرُ﴾[1]...»[2]، ددی عقیدتنــامي تــر پايــه پـوري.

## ب- دقضاء اوقدر په باره کي دامام شــافعي اقــوال:

(۱) بيهقي له ربيع بن سليمان نه نقل کــوي وايــي: «لــه شافعي نه دقضاء او قـــدر پـــه بـــاره کـــي پوښـــتنه وشوه، (هغه) وويـــــل:

ما شئتَ كان وإنْ لم أَشَـــأْ وما شئـــتُ إنْ لم تَشَـــأْ لم يَكُـــنْ

خلقتَ العبادَ على ما عِلمــتَ ففي العـــلم يجـــري الفتى والمُسِـــنّ

على ذا مَنَنْتَ وهذا خَذَلْـــتَ وهـــذا أَعَنْـــتَ وذا لم تُعِـــنْ

فمنهم شَقيٌّ ومنهم سَعيـــدٌ ومنهم قبيحٌ ومنهم حَسَـــنْ[3]»

---

(۱) دالشوری سورت، ۱۱ آيت، ترجمه يې مخکي تـــيره شـــوی ده.

(۲) دا عقيده نامه له هغه نسخي نه نقل شـــوی ده کومـــه چـــي دهالند دليدن په پوهنتون کي ديو خطـــي اصـــل نـــه فوټـــو کاپي شـــوی وه.

(۳) مناقب الشافعي ۱/۴۱۲-۴۱۳، شرح اصـول اعتقــاد اهــل السنـــة ۲/۷۰۲.

يعني: هغه څه چي وغواړی هغه کيږي و لــو کــه مــا نه وي غوښتي، او هغه څه چي زه وغواړم کــــه تــه و نــه غواړی نه کيږي، بنــــدگان دي پــه څــه ډول چــي تــه پوهيږي پيدا کړي دي، او (ستا) دعلــم مطــابق ځــوان او سپين ږيری روان دی، له چا ســـره دي احســـان کــړی (د نيك عمل توفيق دي ورکړی)، او چـــا تــه دي توفيــق (د هدايت او نيك عمل) ندی ورکــړی، لــه چــا ســره دي (په مشکلاتو کي) کومك کړی، او څــوك دي لــه خپــل کومك او نصرت نه محروم کــــړي دي، بعضــي لــه دوی نه بد بخته او بعضي خوشبخته دي، او بعضــــي بــد شــکله او بعضي ښايســـته دي.

(٢) بيهقي په مناقب الشافعي کـــي نقـــل کـــوي وايـــي: چي شافعي وايي: «د بنـــد گانـــو اراده دخـــدای ﷻ (له ارادی) سره تړلي ده، هيح شـــي نشـــي کـــولای مگر دا چي خــــدای ﷻ دهغــه اراده کــړی وي، ځکه چي خلگو خپل اعمـــال نـــدي پيــدا کــړي، بلکه دهغه پيدا کونکی او خـــالق خــدای ﷻ دی،

او دبندګانو اعمال او قضاء اوقدر خیر او شر یي دخدای ﷻ له جانبه دي، او دقبر عذاب حق دی، او (د قیامت دورځي) حساب حق دی، او جنت حق دی، او داسي نور (د عقیدی مسائل) کوم چي په احادیثو کي راغلي دي»[1].

(۳) لالکائي له مزني نه نقل کوي وایي: «شافعي وایي: آیا پوهیږی چي قَدَري[2] څوك دی؟ هغه څوك چي وایي: خدای ﷻ هیڅ شی له واقع کیدلو نه مخکي ندي پیدا کړی»[3].

(٤) او بیهقي له شافعي نه نقل کوي وایي: «قَدَریه هغه کسان دي چي پیغمبر ﷺ دهغوی په باره کي فرمایي: «هغوی (قَدَریه) ددی امت مجوسان

(۱) مناقب الشافعي ۱/٤١٥ .
(۲) قدري هغه چا ته وایي چي دقدریه وو دډلي دعقیدي پیروي کوي، او دقدریه وو تعریف مخکي تیر شوی دی. (ژباړونکی)
(۳) شرح اصول اعتقاد اهل السنة والجماعة ۲/۷۰۱ .

دي»[١]، هغه كسان دي چې وايي: خداى ﷻ (د بندګانو) په ګناهونو مخكې لدې چې واقع شي عالم ندى»[٢].

(٥) او بيهقي له ربيع بن سليمان او هغه له شافعي نه نقل كوي وايي: «چې هغه په قدري پسې لمونځ كول مكروه ګڼل»[٣].

## ج- دايمان په باره كې دامام شافعي اقوال:

(١) ابن عبد البر له ربيع نه نقل كوي وايي: «له شافعي نه مې واوريدل چې وايي: ايمان عبارت دى له قول او عمل او دزړه له اعتقاد نه، آيا نه وينې چې

---

(١) دا حديث ابو داود په كتاب السنة، باب في القدر ٦٦/٥ ح ٤٦٩١، او حاكم په المستدرك ٨٥/١ كې دواړو له ابو حازم بن عمر نه راوايت كړى دى، حاكم دهغه په باره كې وايي: «د شيخينو (بخاري او مسلم) دشرط موافق صحيح دى، په هغه صورت كې چې دابو حازم سماع له ابن عمر نه صحيح وي، او دا (حديث) شيخينو ندى تخريج كړى»، او ذهبي هغه تأييد كړى دى.
(٢) مناقب الشافعي ٤١٣/١ .
(٣) مناقب الشافعي ٤١٣/١ .

خدای ﷻ فرمایي: ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾[(۱)]، یعني ستاسو لمونځونه و بیت المقدس ته، نو پر لمانځه باندي یې دایمان اطلاق وکړ، او لمونځ عبارت دی له قول او عمل او نیت نه»[(۲)].

(۲) او بیهقي له ربیع بن سلیمان نه نقل کوي وایي: «له شافعي نه مي واوریدل چي وایي: ایمان قول او عمل ته وایي زیاتیږي او کمیږي»[(۳)].

(۳) او بیهقي له ابو محمد زبیري نه نقل کوي وایي: «یو چا وشافعي ته وویل: کوم عمل دخدای ﷻ په نزد بهتره دی؟ شافعي وویل: هغه شی چي (خدای ﷻ) بیله هغه نه عمل نه قبلوي، ویل یې: هغه څه دی؟ ویل: په هغه خدای ﷻ باندی ایمان دا لرل چي بیله هغه نه بل دعبادت ور معبود نشته، دا

---

(۱) دالبقره سورت، ۱٤۳ آیت، ترجمه: «او خدای ﷻ ستاسو ایمان (لمونځ) نه ضایع کوي».
(۲) الانتقاء ۸۱ صفحه.
(۳) مناقب الشافعي ۱/۳۸۷ .

ددرجي او مرتبي او شرف له لحاظه له تولـــو نـــه لـــوړ او لوی عمل دی، سړي وویـــل: دایمـــان پـــه هکلـــه خبر راکړه چي آیـــا قـــول او عمـــل (دواړه) دي، او که قول بیله عمل نه دی؟ شـــافعي وویـــل: ایمـــان دالله لپاره عمل کول دي، او قول ددي عمـــل یـــوه برخـــه ده، (سوال کونکي) سړي ویـــل: دا (خـــبره) را تـــه شرح کړه چي په پوه شـــم، شـــافعي ویـــل: ایمـــان مختلف حالات، درجي، او طبقي لـــري، بعضـــي لـــه هغه په پوره وضاحت ســـره پـــوره او کاملـــه دي، او بعضي يې په واضح ډول ناقصـــــه دي، او دبعضـــو (د کمال او یا نقصان) زیاتوالی غالبه وي، ســـړي ویـــل: او ایمان پر یو حـــالت نـــدی زیاتـــیږي او کمـــیږي؟ شافعي ویل: هو، (سړي) ویل: دلیـــل یـــي څـــه دی؟ شافعي ویـــل: خـــدای ﷻ دبـــني آدم پـــر اندامونـــو باندي ایمان فرض کړی او پـــر هغـــوی یـــي تقســـیم کړی او ویشلی دی، نو هر انـــدام دخـــدای ﷻ لـــه جانبه دایمان په یو جـــزء بـــاندي مکلـــف شـــوی دی.

چي بل يي په هغه ندی مکلـــف:
لدی جملي نه دهغه زړه دی چـــي تفکـــر او تعقـــل کوي، او پوهيږي او زده کړه کـــوي، هغـــه دخپـــل جسم امير دی چي نور اعضاء بيله دهغه له امـــر نـــه هيڅ کار نشي کـــولای.
او لدی جملي نه دهغه ســـترگي دي چـــي پـــه هغـــه سره ويني، او غوږونه يي دي چـــي پـــه هغـــه ســـره اوري، او لاسونه يي دي چي په هغه ســـره اخســـتل کوي، او پښي يي دي چـــي پـــه هغـــه ســـره تلـــل کوي، او فرج (د شهوت ځای) يـــي دی چـــي پـــه هغه سره خپل شهوت تر سره کـــوي، او ژبـــه يـــي ده چي په هغه خبري کوي، او ســـر يـــي دی چـــي په هغه کي مخ پـــروت دی.
دزړه فرض دژبي له فرضـــو څخـــه ځـــانگړی دی، دغوږونو فرض دسترگو لـــه فرضـــو نـــه ځـــانگری دی، دلاســـونو فـــرض دپښـــو لـــه فرضـــو څخـــه ځانگړی دی، دفرج (شهوت ځای) فرض لـــه هغـــه

څه نه چي پر مخ فرض دي بيـــل او ځـــانګړی دی. پـــر زړه بـــاندي دخـــدای ﷻ فريضـــه او وجيبـــه عبارت ده له: اقرار كـــول، پيژنـــدل، نيـــت كـــول، راضي كيدل، او ددی خبري منـــــل دي چـــي بيلـــه خدای ﷻ نه بل دعبادت وړ معبود نشته، هغـــه يـــو دی شريك نلري، ملـــګری (يعـــني ښځه) او اولاد نلري، او محمد ﷺ دهغه بنده او پيغمـــبر دی، او پـــه هغو پيغمبرانو او كتـــابونو اقـــرار كـــول دي چـــي دخدای ﷻ لـــه جانبـــه راغلـــي دي. داده دخـــدای ﷻ فريضه پـــر زړه بـــاندي، او همـــدا دزړه عمـــل دی، (خدای ﷻ فرمايي): ﴿إِلاَّ مَـــنْ أُكْـــرِهَ وَقَلْبُـــهُ مُطْمَئِـــنٌّ بِالْإِيمَـــانِ وَلَكِـــنْ مَـــنْ شَـــرَحَ بِـــالْكُفْرِ صَدْرًا﴾[1]، او فرمـــايي: ﴿أَلا بِذِكْـــرِ اللَّـــهِ تَطْمَئِـــنُّ

---

(۱) دالنحل سورت، ۱۰٦ آيت، ترجمه: «مګر هغه څـــوك چـــي (د كفر دكلمي په ويلو) مجبور شي پداسي حـــال كـــي چـــي زړه يي پر ايمان مطمئنه وي (نو پـــر هغـــوی بـــاندي څـــه-

**الْقُلُوبُ﴾**[1]، او فرمايي: **﴿مِنَ الَّذِينَ قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوبُهُمْ﴾**[2]، او فرمايي: **﴿وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ﴾**[3]، او دا دايمان په برخه کي پر زړه باندي دخداى ﷻ فريضه ده، او همدا دزړه عمل، او دايمان سِرّ دى (يعني دايمان داجزاوو نه له ټولو مهم جزء دى).

او پر ژبه باندي دخداى ﷻ فريضه داده چي په کوم شي چي زړه معتقد دى دهغه تعبير او اظهار

---

گناه نشته)، خو هغه چا چي کفر ته سينه پرانستله (نو پر هغوى باندى دخداى ﷻ غضب او عذاب وي)».

(١) دالرعد سورت، ٢٨ آيت، ترجمه: «با خبر اوسى چي دخداى ﷻ په ذکر زړونه آرام او اطمئنان حاصلوي».

(٢) دالمائدة سورت، ٤١ آيت، ترجمه: «اله هغو کسانو نه چي په خوله وايي ايمان مو راوړى، پداسي حال کي زړونو يي ايمان ندى راوړى».

(٣) دالبقره سورت، ٢٨٤ آيت، ترجمه: «څه چي ستاسو په زړونو کي دي که يي پټ کړي او يا ښکاره، خداى ﷻ دهغه محاسبه در سره کوي».

وکړي، خدای ﷻ فرمایي: ﴿قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ﴾[1]، او فرمایي: ﴿وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا﴾[2]، او دا دخدای ﷻ فریضه ده پر ژبه باندي، چي هغه دزړه له (اعتقاد) نه تعبیر کول دي، او دا دژبي عمل دی، او دایمان له جملي نه دهغي فریضه ده.

او پر غوږو باندي دخدای ﷻ فریضه داده چي له کومو شیانو نه چي خدای ﷻ حرام ګرځولي دي ځان وژغوري، او له کومو شیانو نه یي چي منع کړی، لیري اوسي، خدای ﷻ پدی هکله وایي: ﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ

---

(۱) دالبقره سورت، ۱۳٦ آیت، ترجمه: «ووایاست چي په خدای ﷻ مو ایمان راوړی دی».

(۲) دالبقره سورت، ۸۳ آیت، ترجمه: «او و خلګو ته نیکه خبره وکړی».

﴿إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ﴾[(۱)]، او بيا يې هيره له هغه نه مستثنی کړه، او فرمايي: ﴿وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ﴾ يعني (که په هيره) لدوی سره کښېنستې ﴿فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾[(۲)]، او فرمايي: ﴿فَبَشِّرْ عِبَادِي ۞ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُوا الْأَلْبَابِ﴾[(۳)]، او فرمايي: ﴿قَدْ أَفْلَحَ

---

(۱) دالنساء سورت، ۱٤۰ آيت، ترجمه: «او په رښتيا چې (خدای ﷻ) پر تاسو باندې په خپل کتاب کې (دا حکم) نازل کړ چې که مو واوريدل چې (خلګ) دخدای ﷻ په آياتو (او احکامو) کافر کيږي او سپکاوی کوي، دهغوی سره مکښېنئ تر څو چې (بيله کفر او سپکاوی نه) په بله خبره شروع وکړي، (که تاسو لدوی سره کښېنئ) نو تاسو به هم ددوی په شان ياست».

(۲) دالأنعام سورت، ٦۸ آيت، ترجمه: «او که يې چيرې شيطان ستا څخه هير کړي (او لدوی سره کښېناستې نو کومه ګناه درباندې نشته)، خو ورروسته لدی نه چې په ياد دي شي له ظالمانو سره مه کښېنه».

(۳) دالزمر سورت، ۱۷-۱۸ آيت، ترجمه: «نو زما هغه بندګانو ته زيری ورکړه چې خبرې اوري او دهغو له-

الْمُؤْمِنُونَ ۞ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾ دخداى ﷻ تر دى قول پوري﴿لِلزَّكَاة فَاعِلُونَ﴾[(١)]، اوفرمايي: ﴿وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ﴾[(٢)]، او فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ لا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا﴾[(٣)]، نو دحرامو داوريدلو نه دا ليري والى دغوزونو عمل دى چي خداى ﷻ پر هغو باندي فرض

---

سو څخه پيروي کوي، هغوى ته خداى ﷻ هدايت کړى، او هغوى دعقل او پوهي خاوندان دي».

(١) دالمؤمنون سورت، ١-٤ آيت، ترجمه: «په رښتيا سره مؤمنان کامیابه دي، هغه کسان چي په لمانځه کي خشوع لري، -دخداى ﷻ تر دى قول پوري- او (د خپلو مالونو) زکات ورکوي».

(٢) دالقصص سورت، ٥٥ آيت، ترجمه: «او کله چي بيباکه او بيهوده خبري واوري نو مخ څني گرځوي».

(٣) دالفرقان سورت، ٧٢ آيت، ترجمه: «او هسي کسان دي چي په دروغو شاهدي نه ورکوي، او کله چي په باطل او بيباکه خبرو باندي (بيله قصده مخامخ شي او) تير شي، نو مخ حني واړوي او تير شي».

کړی دی، او دا دایمان له جملي نـــه دی.

او دسترګو فریضـــه داده چـــي حرامـــو تـــه ونـــه ګوري، او له کومو شیانو نه چي خـــدای ﷻ منـــع کړی ده سترګي پټي کـــړي، خـــدای ﷻ فرمـــايي: ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّـــوا مِـــنْ أَبْصَـــارِهِمْ وَيَحْفَظُـــوا فُرُوجَهُمْ﴾[۱] دآیت تر آخـــره پـــوري، یعـــني مؤمـــن باید دنورو دعورت له لیدلو نه سترګي پـــټي کـــړي، او خپـــل عورت (هـــم) دنـــورو لـــه ســـترګو نـــه خـــوندي وســـاتي».

او (شافعي) وايي: دقرآن په هـــر آیـــت کـــي چـــي دعورت او فرج په حفظ او ســـاتلو امـــر شـــوی دی له هغه نه مراد له زنا (نـــه ځـــان ســـاتل دي)، پـــه استثناء ددغه آیت چي له هغـــه نـــه مـــراد دســـترګو ســـاتل او پټـــول دی.

---

(۱) دالنور سورت، ۳۰ آیت، ترجمه: «او مؤمنانو ته ووايـــه چـــي خپلي سترګي (د حرامو) له لیدلو نه پـــټي کـــړي، او خپـــل دشرم ځایونه (د حرام کارونو) نه وســـاتي».

او له حرام نه دسترګو پټول دسترګو هغه عمل دی چې خدای ﷻ پرې فرض کړی دی، او هغه دایمان له جملې نه دی.

او بیا یې د(ټولو) هغه شیانو نه چې پر زړه، غوږو، او سترګو باندې فرض کړیدي یادونه وکړه او په یوه آیت کې یې ذکر کړل، لکه چې فرمایي: ﴿ولا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولاً﴾[1]، (شافعي) وایي: یعني پر عورت (د شرم پر ځای) باندې یې فرض کړي دي چې هغه په حرامو سره ملوث نکړي (لکه چې فرمایي): ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ﴾[2]، او فرمایي:

---

(۱) دالإسراء سورت، ۳۶ آیت، ترجمه: «او په کوم شي چې نه پوهیږې دهغه متابعت مه کوه، بیله شکه چې (انسان له هغه څه نه چې) غوږ او سترګي او زړه یې (کړي وي) پوښتل کیږي».

(۲) دالمؤمنون سورت، ۵ آیت، ترجمه: «او کوم کسان چې خپل عورتونه (د شرم ځایونه) ساتي».

﴿وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ﴾[1] دآیت تر آخره پوري، د«جلود» (پوستونو) له کلمی نه مراد: عورتونه (دشرم ځایونه) او ورنونه دي، او دا دخدای ﷻ فریضه پر عورتونو باندي ده چي هغه له حرام کار نه وساتي، او همدا دهغه عمل دی.

او دلاسونو فریضه داده چي په هغه حرام کارونه ونکړي، او (یوازي) هغه کارونه پري وکړي کوم چي خدای ﷻ په هغه امر کړی دی لکه صدقه او خیرات، او صله ء رحمي، او دخدای ﷻ په لار کي جهاد، دلمانځه لپاره اودس، خدای ﷻ فرمايي:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا

---

(۱) دفصّلت سورت، ۲۲ آیت، ترجمه: «او هغه حه چي تاسو (د گناهونو دکولو په وخت کي لدی ویري نه) پټول (چي) ستاسو غوږونه او سترگي او پوستونه به پر تاسو شاهدي ووايي».

وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ﴾[۱]

دآیت تر آخره پوري، او فرمايي: ﴿فَإِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً﴾[۲]، ځکه چي وهل، او جنگ، او صلهء رحمي، او صدقه او خیرات دهغه له (اعمالو) نه دي.

او دپښو فریضه داده چي دحرام خوا ته ولاړي نشي، لکه ښنگه چي خدای ﷻ فرمايي: ﴿وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ

---

(۱) دالمائده سورت، ٦ آیت، ترجمه: «ای مؤمنانو کله چي و لمانځه ته ولاړ شی (اراده وکړی) خپل مخونه او لاسونه تر څنگلو پوري ومینځی».

(۲) دمحمد سورت، ٤ آیت، ترجمه: «کله چي (د جنگ په ساحه کي) له کفارو سره مخامخ شی نو غاړي يي ووهی تر څو چي هغوی (ښه) ضعیفه او کمزوري کړی (او ماتی ورکړی، او وروسته بیا) هغوی په ټینگه بندیان کړی، او وروسته یا پر هغوی باندي احسان وکړی (بیله عوضه يي آزاد کړی)، او یا له هغوی نه عوض واخلی (او آزاد يي کړی)».

**وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولاً﴾**[1].

او دمخ فریضه داده چې وخدای ﷻ ته شپه او ورځ دلمانځه په وختونو کې پر سجده وي، لکه څنګه چې فرمايي: **﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾**[2]، او فرمايي: **﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾**[3]، له مساجدو نه مراد هغه څه دي چې پر هغه باندي په لمانځه کې سجده

---

(۱) دالإسراء سورت، ۳۷ آیت، ترجمه: «او په ځمکه کې په خیال او غرور سره په لاري مه ځه، بیله شکه چې ته به (په تګ سره) ځمکه څیري نکړی، او نه به (په خپل غرور او تکبر سره) په اوږدوالي دغرونو اندازی ته ورسیږی».

(۲) دالحج سورت، ۷۷ آیت، ترجمه: «ای مؤمنانو (په لمانځه کې) رکوع او سجده وکړی، او دخدای ﷻ عبادت وکړی، او نیك کارونه وکړی تر څو کامیابه شی».

(۳) دالجن سورت، ۱۸ آیت، ترجمه: «او بیله شکه چې مسجدونه دخدای ﷻ د(عبادت) لپاره دي، نو بیله خدای ﷻ نه دبل چا عبادت (په هغه کې) مه کوی».

کيږي، لکه تندی او نور.

(شافعي) وايي: دا هغه شيان دي چې خدای ﷻ (د انسان) پر دغه اندامونو باندې فرض کړي دي.

او پر لمانځه او اوداسه يې لدې جهته دايمان اطلاق کړی دی چې خدای ﷻ کله خپل پيغمبر ﷺ دبيت المقدس طرف نه دکعبې و طرف ته دلمونځ کولو امر وکړ، نو مسلمانانو شپاړس (۱٦) مياشتې بيت المقدس ته لمونځونه کړي وه، نو هغو ويل: چې ای دخدای ﷻ پيغمبره، دهغه لمونځونو په باره کې چې بيت المقدس ته مو کړي دي څه وايې چې دهغه لمونځونو او زموږ په باره کې څه حکم دی؟ (زموږ دلمونځونو او زموږ څه حال دی؟)

خدای ﷻ ( دهغه په جواب کې) دا آيت نازل کړ: ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾[1]، نو دايمان اطلاق يې پر لمانځه

---

(۱) دالبقره سورت، ۱٤۳ آيت، ترجمه يې تيره شوی ده.

وکړ، نو ځوك چې خـــداى ﷻ تــه حضــور ورورړي پداسې حال کې چې لمونځونـــه يـــې اداء کــړي وي، خپل اندامونه يې (له حرام) نـــه ســاتلي وي، او خپــل هر اندام يې په هغه ځـــه کـــې اســتعمال کــړی وي چې په هماغه کـــار خـــداى ﷻ امـــر کـــړی وي او ورباندې فرض کړی يې وي، نو دخپـــل خـــداى ﷻ حضور ته به په کامله ايمـــان ســـره ولاړ شـــي او لـــه جنتيانو نه  به وي، او ځوك چـــې دخـــداى ﷻ لـــدى اوامرو ځخه کوم امر قصداً ترك کړي، نـــو دخـــداى ﷻ حضور ته به په ناقصه ايمان سره لاړ شـــي.

سوال کونکي سړي وويل: چې په نقصان يـــې پـــوه شوم، ولې زياتوالى يې له کوم ځاى نـــه دی؟

شـــافعي ووويـــل: خـــداى ﷻ فرمـــايي: ﴿وَإِذَا مَـــا أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُـــولُ أَيُّكُـــمْ زَادَتْـــهُ هَـــذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّـــا الَّذِيـــنَ آمَنُـــوا فَزَادَتْـــهُمْ إِيمَانًـــا وَهُـــمْ يَسْتَبْشِرُونَ ۞ وَأَمَّـــا الَّذِيـــنَ فِـــي قُلُوبِـــهِمْ مَـــرَضٌ فَزَادَتْـــهُمْ رِجْسًـــا إِلَـــى رِجْسِـــهِمْ وَمَـــاتُوا وَهُـــمْ

كَافِرُونَ﴾[1]، او فرمايي: ﴿إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾[2].

شافعي وويل: كه چيري دا ايمان ټول يو واى او نقصان او زياتوالى بي نه موندلاى، نو هيڅ چا ته به په هغه كي فضيلت نه حاصليدلاى، او (ټول) خلگ به په هغه كي يو شانتي واى، او پر يو بل باندي فضيلت او لوړوالى لرل به باطل واى، ليكن دايمان په كمال سره مؤمنان جنت ته

(۱) دالتوبه سورت، ۱۲٤-۱۲٥ آيت، ترجمه: «او كله چي (د قرآن) يو سورت نازل شي، بعضي لدوى نه (يعني منافقين په ټمسخر او سپكاوى) سره وايي چي دچا ايمان پدى سره زيات شو؟ اما كوم كسان چي مؤمنان دي دهغوى ايمان (په هغه سره) زيات شي پداسي حال كي چي (په خپل ايمان او يقين) خوشحاله وي، اما هغه كسان چي په زړونو كي بي (د منافقت او شك) مرض وي، نو (د منافقت او شك) ناولتيا بي دمخكيني نفاق نه نوره هم زياته شي، او كفار له دنيا نه لاړ شي».

(۲) دالكهف سورت، ۱۳ آيت، ترجمه: «هغوى دځوانانو (يوه ډله) وه چي په خپل خداى ﷻ يي ايمان راوړى وو، او زيات هدايت مو ور په برخه كړ».

حي، او دايمان دزياتوالي په وجه دمؤمنانو درجي په جنت کي دخداى ﷻ په نزد يو پر بل بهتري لري، او د(ايمان) دنقصان په وجه کوم کسانو چي تقصير او نيمګړتيا کړى وي دوزخ ته ځي.

شافعي وويل: چي خداى ﷻ دبندګانو په مينځ کي (د ايمان په باره کي) په مسابقه واچول، لکه څنګه چي دمسابقي په ورځ داسانو په مينځ کي مسابقه وي، نو دهغوى درجي دهغوى دمخکيتوب په اندازه برابري وي، او هر چا ته هغه درجه ورکوي کومي ته چي (له نورو نه) مخکي رسيدلى وي، له حق نه بي هيڅ شى نه کميږي، او نه وروسته شخص له مخکي شخص نه وړاندي کيږي، او همدا وجه ده چي ددى امت اول خلک پر وروستنو باندي فضيلت لري، او څوک چي په ايمان کي (له نورو نه) مخکي وي پر هغه چا چي (له نورو نه) وروسته پاتي وي فضيلت نه لرلاى، نو بيا به ددى امت آخر (سړي) له اول (سړي)

سره برابر واى (خو داسي نـــده)»[١].

د- دصحابه وو په باره كي دامام شـــافعي اقـــوال:

(١) بيهقي له شافعي نه نقل كـــوي وايـــي: «خـــداى ﷻ دپيغمبر ﷺ اصحاب په قـــرآن او تـــورات او انجيـــل كي ستايلي دي، او دپيغمبر ﷺ په ژبه دهغـــو لپـــاره داسي فضيلت حاصل دى، چي ددوى نـــه وروســـته بل هيچا ته (داسي فضيلـــت) نـــدى حـــاصل، نـــو خداى ﷻ دي هغوى تولو ته خپل رحمـــت ور پـــه نصيب كړي، او هغوى ته هغـــه (فضيلـــت) ور پـــه برخه كړي چي ورته وركړى يـــي دى، او هغـــوى دي دصديقينو او شهداوو او صالحينو لـــوړو درجـــو ته ورسوي، ځكه هغـــوى هغـــه كســـان دي چـــي دپيغمبر ﷺ سنت يي موږ تـــه رســـولي، او (پيغمـــبر ﷺ) يي پداسي حال كي ليدلى دى چـــي وحـــي پـــر نازليدل، او دپيغمبر ﷺ تولي خـــبري يـــي پـــه تولـــه

---

(١) مناقب الشـــافعي ١/٣٨٧-٣٩٣ .

معنی (لکه) خاص، او عام، او عزیمت، او رخصت، درك كړي دي، او دهغه په سنتونو نه بې -په کوم چې موږ خبر يو او يا نه يو خبر-، (پوره) پوهه درلوده، او هغوی په ټولو د ګرونو کي (لکه) اجتهاد او تقوی او پوهي او داستنباط او ادراك دوسيلي دلرلو په لحاظ له موږ نه برتري او فضيلت درلود، او دهغوی نظريات او آراوي زموږ لپاره زموږ تر نظريات او آراوو ښتره او غوره دي، او خدای ﷻ ښه پوهيږي»[1].

(۲) بيهقي له ربيع بن سليمان نه نقل کوي وايي: «له شافعي نه مي واوريدل چي (د صحابه وو په مينځ كي) دافضلو (کسانو) پوښتنه څني وشوه، ويي ويل: (له ټولو نه افضل کسان) ابو بكر او عمر او عثمان او علي رضي الله عنهم (دي)»[2].

---

(۱) مناقب الشافعي ۱/۴۴۲ .
(۲) مناقب الشافعي ۱/۴۳۲ .

(٣) او بیهقي له محمد بن عبد الله بن عبد الحکیم[1] نه نقل کوي وايي: «له شافعي نه مې واوریدل چې وايي: له پیغمبر ﷺ نه وروسته له ټولو خلکو نه افضل او بهتر ابو بکر، وروسته عمر، وروسته عثمان، او وروسته علي رضي الله عنه دی»[2].

(٤) هروي له یوسف بن یحیی نه نقل کوي وايي: «له شافعي نه مې پوښتنه وکړه چې په رافضي[3] پسې لمونځ وکړم؟ ویل یې: په رافضي او قَدَري او

(١) هغه محمد بن عبد الله بن عبد الحکیم المصري ابو عبد الله دی، شیرازي دهغه په باره کې وايي: «د شافعي شاګرد وو او فقه یې له هغه نه اخیستې ده، او د(قرآن دمخلوقیت دمسألې) دفتنې په وخت کې ابن ابي داود ته یووړل شو، خو لدی چې دهغوی غوښتنې ته یې جواب ورنکړ نو دوباره مصر ته رواړل شو... او په ٢٦٢هـ کال کې وفات شوی دی».
طبقات الفقهاء ٩٩ صفحه، او طبقات الشافعیة دابن هدایة الله تألیف ٣٠ صفحه، او شذرات الذهب ١٥٤/٢ دي وکتل شي.

(٢) مناقب الشافعي ٤٢٣/١ .

(٣) رافضي درافضه وو دډلې پیروانو ته وايي. (ژباړونکی)

مرجئه[(۱)] پسې لمونځ مه کـــوه، مـــا ویـــل: دهغـــوی وصف ما ته بیان کړه، ویل یې: څوك چـــې وایـــې: ایمان یوازې قول (یعنې اقرار په ژبـــه) دی، هغـــه لـــه مرجئه وو نه دی، او څوك چې وایې: ابـــو بكـــر او عمر له خلیفه ګانو نه ندي، هغه لـــه رافضـــه وو نـــه دی، او څوك چې وایې: دبنده اراده دهغـــه پـــه لاس نده، هغه له قدریه وو نـــه دی»[(۲)].

**هــ- امام شافعي په دین كې له (بیـــهوده او بیځایـــه) خصومت او بحث كولو نه منع كـــوي:**

(۱) هروي له ربیع بن سلیمان نه نقل كوي وایـــې: «لـــه شافعي نه مې واوریدل چې وایـــې: ... كـــه څـــوك و بل چا تـــه د خپلـــو علمـــي كتـــابونو وصیـــت وكړي، او په هغه كې دعلـــم كـــلام كتابونـــه هـــم

---

(۱) دقدریـــه وو او مرجئـــه وو تعریـــف مخكـــې شـــوی دی. (ژبـــاړونكی)

(۲) ذم الكلام (ق-۲۱۵) او ذهبي هغه په السـيـــر ۱۰/۳۱ كـــې ذكـــر كـــړی دی.

وي، نو دا (د علم کلام) کتابونه په وصيت کې نه داخليږي، ځکه چې دا کتابونه دعلمي کتابونو نه نه شميرل کيږي»[(۱)].

(۲) او هروي له حسن زعفراني نه نقل کوي وايي: «له شافعي نه مي واوريدل چي وايي: ما بيله يو واري بل ځلي له چا سره په علم کلام کې بحث ندی کړی، او زه له خدای ﷻ نه دهغه بخښنه غواړم»[(۲)].

(۳) او هروي له ربيع بن سليمان نه نقل کوي وايي: «شافعي وايي: که وغواړم چې دخپلو مخالفينو دهر يوه پر ضد يو کتاب وليکم، نو (دا کار) کولای شم، خو په علم کلام باندي بوخت والی زما سره نه ښايي، او زه نه غواړم چي له هغه نه

(۱) ذم الكلام (ق-۲۱۳) او ذهبي هغه په السير ۳۰/۱۰ کې ذکر کړی دی.
(۲) ذم الكلام (ق-۲۱۳) او ذهبي هغه په السير ۳۰/۱۰ کې ذکر کړی دی.

دکوم شی نسبت ما ته وشـــي»[۱] .

(٤) او ابن بطه له ابو ثور نه نقل کـــوي وايـــي: شـــافعي ما ته وويل: هيڅ څوك مي ندی ليدلی چي پـــه علـــم كلام کي بي برخه اخيستي وي او بيا يـــي کاميـــابي او سعادت لاس تـــه راوړی وي»[۲] .

(٥) او هروي له يونس مصري نـــه نقـــل کـــوي وايـــي: «شافعي وايي: دا چي خدای ﷻ انسان بيلـــه شـــرك نه دنورو منهياتو (ناروا کـــارونو) پـــه کولـــو مبتـــلا کړي، بهتره ده لدی نه چي په علم کلام ســـره يـــي مبتـــلا کـــړي»[۳] .

دا وه دامام شافعي داقوالو يوه مجموعـــه چـــي داصـــول دين دمسائلو او دعلم کلام په باره کـــــي (يـــي دده دنظـــر او موقف څرگندونه کول)، او موږ نقل او بيـــان کـــړل.

---

(۱) ذم الكـــلام (ق-۲۱۵) .
(۲) الإبانة الكبرى ٥٣٥-٥٣٦ صفحـــه .
(۳) مناقب الشافعي دابن ابي حاتم تـــأليف ١٨٢ صفحـــه.

## پنځم مبحث

## د امام احمد رحمة الله عليه عقيده:

### أ- دتوحيد په باره کي دامام احمد اقـــوال:

(١) په طبقات الحنابلة[(١)] کي راغلي دي: «چي لـــه امـــام احمد نه دتوکل په باره کي پوښـــتنه وشـــول، ويـــل يې: (توکل) له خلگو نه داميد او طمع قطـــع کولـــو تـــه وايـــي».

(٢) او په کتاب المحنة[(٢)] کي چـــي دحنبـــل تـــأليف دی راغلي دي چي امام احمد وايـــي: «خـــدای ﷻ لـــه (ازل) نه متکلم (خـــبري کونکـــی) دی، او قـــرآن دخـــدای ﷻ کـــلام دی او مخلـــوق نـــدی او هـــر جهت ته دی، او په کوم شي چي يـــي خپلـــه خپـــل ځان توصيف کړي دی، له هغه نه زيـــات پـــه بـــل هيڅ شي موصوف کيدای نشـــي».

---

(١) طبقات الحنابلـــة ٤١٦/١ .

(٢) کتاب المحنة صفحـــه ٦٨ .

(۳) او ابن ابي يعلی له ابو بکر مروزي نــه نقــل کــوي وايي: «له احمد بن حنبل نه دهغــو احــاديثو پوښــتنه وشوه چې جهميه يــې د(خــدای ﷻ) دصفــاتو او (د هغه) دليدلو او اسراء (او معراج) پــه بــاره کــې ردوي (او نه يــې مــنې)، (احمــد) هغــه احــاديث صحيح وګڼل، وبې ويــل: چــې (اسـلامي) امــت هغه قبــول کــړي دي، او څنــګه چــې راغلــي هماغسي عقيده په کــوو»[۱].

(٤) عبد الله بن احمد په کتاب السنة کــې وايــي: احمــد وايي: «څوك چې ګمان وکــړي چــې خــدای ﷻ خبري نه کوي، هغه کافر دی، او مــوږ دا احــاديث لکه څنګه چې راغلي هماغسي ايمان په لــرو»[۲].

(٥) او لالکائي له حنبل[۳] نه نقل کوي چــې لــه امــام

---

(۱) طبقات الحنابلــة ۱/٥٦ .

(۲) السنة ۷۱ صفحه، ددار الکتب العلميــة چــاپ .

(۳) هغه حنبل بن اسحق بن حنبل بن هــلال بــن اســد ابــو علــي الشيباني دی، او هغه داحمــد بــن حنبــل کاکــا دی، خطيــب=

احمد نه (د قيامت په ورح دخداى ﷻ د) ليدلو په باره كي پوښتنه وشوه، ويي ويل: دا احاديث صحيح دي، په هغه ايمان او اقرار لرو، او هر څه چي له پيغمبر ﷺ نه په صحيح سند روايت شوي وي، په هغه ايمان او اقرار لرو»[1].

(٦) ابن جوزي په المناقب كي و مسدد[2] ته داحمد بن حنبل ليك ذكر كړى چي په هغه كي وايي: «خداى ﷻ په هغو شيانو توصيف كړى چي خپله يي ځان په هغه توصيف كړى دى، او له

---

دهغه په باره كي وايي: «ثقة، ثبت»، په ٢٧٣هـ كال كي وفات شوى دى.
تاريخ بغداد ٨/٢٨٦-٢٨٧، او طبقات الحنابلة ١/١٤٣ دي وكتل شي.

(١) شرح اعتقاد اهل السنة والجماعة ٢/٥٠٧ .

(٢) هغه مسدد بن مسرهد بن مسربل الاسدي البصري دى، ذهبي دهغه په باره كي وايي: «الإمام، الحافظ، الحجة، په ٢٢٨هـ كال كي وفات شوى دى».
سير اعلام النبلاء ١٠/٥٩١، او تهذيب التهذيب ١٠/١٠٧ دي وكتل شي .

هغه نه هغه څه نفي کړی چې خپله يې له ځان نه نفي کړي دي...»[۱].

(۷) د (الرد على الجهمية) په کتاب دامام احمد تأليف کې راغلي چې وايي: «او جهم بن صفوان داسې گمان کوي هغه څوك چې خدای ﷻ په هغو شيانو (صفاتو) توصيف کړي چې خپله يې ځان په خپل کتاب کې په هغه توصيف کړی، او يا يې دخپل پيغمبر ﷺ په ژبه يې په هغه توصيف کړی دی، نو هغه کافر دی، او هغه دمشبهه وو[۲] له ډلې نه دی»[۳].

(۸) او ابن تيمية په کتاب الدرء کې له امام احمد نه نقل کوي وايي: «موږ عقيده لرو چې خدای ﷻ

---

(۱) مناقب الامام احمد ۲۲۱ صفحه.
(۲) مشبهه داهل سنت و جماعت له مخالفو دلو نه يوه ډله ده، چې دخدای ﷻ صفات دمخلوقاتو له صفاتو سره مشابه گڼي. (ژباړونکی)
(۳) الرد على الجهمية ۱۰٤ صفحه.

ځنګه چې خپله غواړي په هماغه شان پر عرش دی، بیله دی چې په کیفیت او حد او اندازه یي څوك پوه شي، نو دخدای ﷻ صفات دهغه له جانبه دي او دده لپاره دي، او هغه هماغسي دی په کوم شي چې یې خپله ځان توصیف کړی دی، او سترګي (په دنیا کي) پر هغه احاطه نشي کولای او نه یې لیدلای شي»[1].

(٩) ابن ابي یعلی له احمد نه نقل کوي چې هغه وایي: «څوك چې ګمان وکړي چې خدای ﷻ په آخرت کي نه لیدل کیږي، هغه کافر دی، او دقرآن تکذیب[2] یې کړی دی»[3].

(١٠) او ابن ابي یعلی له عبد الله بن احمد نه نقل کوي وایي: «زما له پلار نه دهغو کسانو په باره کي پوستنه وشوه چې وایي: کله چې خدای ﷻ له

(١) درء تعارض العقل والنقل ٢/٣٠ .
(٢) یعني ددروغو نسبت یې ورته کړی دی. (ژباړونکی)
(٣) طبقات الحنابلة ١/٥٩،١٤٥ .

موسی علیه السلام سره خبري وکړی، نو (د خدای ﷻ) خبري په آواز سره نه وي، پلار مي (په جواب کي) وويل: خدای ﷻ (له موسی علیه السلام سره) په آواز او ږغ سره خبري وکړی، او دا احاديث لکه څنګه چي راغلي هماغسي يي روايت کوو (يعني بيله دی چي په کيفيت يي پوه شو ايمان پري لرو)»[1].

(۱۱) لالکائي له عبدوس بن مالك العطار نه نقل کوي وايي: له ابو عبد الله احمد بن حنبل نه مي واوريدل چي وايي: «.. او قرآن دخدای ﷻ کلام دی مخلوق ندی، او ددی خبري په کولو کي چي (قرآن) مخلوق ندی سستي مکوه، ځکه دخدای ﷻ کلام دده (له صفاتو نه) دی، او کوم شی چي دخدای ﷻ (له صفاتو څخه) وي

---

(۱) طبقات الحنابلة ۱۵۸/۱ .

نو هغه مخلوق نــه وي»[۱].

## ب- د قضاء او قدر په باره کې دامام احمـــد اقــوال:

(۱) ابن جوزي په المناقب کې و مسدد تـــه داحمـــد بـــن حنبل دليك په ضمن کې ذکر کـــوي (چـــې هغـــه وايي): «او په قضاء وقدر او پدي ســـره چـــې خـــير او شر يې، تريخ او خوز يې دخدای ﷻ لــــه جانبـــه دي، ايمان ولـــري»[۲].

(۲) خلال له ابو بکر مروزي نه نقل کـــوي وايـــي: «لــــه ابو عبد الله نه پوستنه وشوه، (په جـــواب کـــې يـــې) وويل: خير او شر (د خـــدای ﷻ لـــه جانبـــه) پـــر بندگانو مُقَدَّر دي (يعني په تقدير کـــــې يـــې ليکـــل شوي دي)، ورته وېي ويـــــل: خـــدای ﷻ خـــير او شر (دواړه) پيدا کړي دي؟ ويل يې: هـــــو، خـــدای ﷻ هغه (ټوله) په تقدير کې ليکلـــــي دي»[۳].

---

(۱) شرح اصول اعتقاد اهل الســــنة والجماعـــة ۱/۱۵۷ .

(۲) مناقب الامام احمد ۱۶۹، ۱۷۲ صفحه ددار الآفاق الجديـــــدة چـــاپ.

(۳) السنة دخلال تـــأليف (ق-۸۵) .

(۳) او دالسنة په کتاب کي چي دامام احمد تألیف دی راغلي دي چي وايي: «او قضاء او قدر خير او شر يې، لږ او ډير يې، ظاهر او باطن (ښکاره او پټ) يې، ښايسته او بد رنګه يې، اول او آخر يې، دخدای ﷻ له جانبه دي، هغه يې دبندګانو په تقدير کي ليکلي دي، او هيڅ څوك دخدای ﷻ له ارادی نه خارج ندی، او نه يې له قضاء او قدر نه تجاوز کولای شي»[۱].

(٤) خلال له محمد بن ابو هارون له ابو الحارث نه نقل کوي وايي: «له ابو عبد الله نه مي واوريدل چي وايي: خدای ﷻ طاعتونه (نيك کارونه) او ګناهونه، او خير او شر يې په تقدير کي ليکلي دي، نو څوك چي يې خوشبخت (او دښه عمل خاوند) وليکی، نو هغه به خوشبخته وي، او څوك چي يې بد بخته (د بد عمل خاوند) وليکی،

(۱) السنة ٦٨ صفحه.

نو هغه به بدبخته وي»[۱].

(۵) عبد الله بن احمد وايي: له پلار نه مي واوريدل چي کله علي بن جهم دهغه چا په باره کي پوښتنه ځني وکړه چي دقدريه وو په عقيده وي، کافر دی (او که نه)؟ (احمد) ويل: «که د(خدای ﷻ) نه بي انکار وکړ، او وبي ويل: چي خدای ﷻ (مخکي) عالم نه وو، تر څو پوري چي علم بي خلق او پيدا کړ، نو بيا عالم شو (يعني علم ورته حاصل شو)، نو دا سړي دخدای ﷻ له علم نه انکار وکړ او هغه کافر دی»[۲].

(۶) عبد الله بن احمد وايي: له پلار نه مي بل ځلي په قدريه وو پسي دلمونځ کولو پوښتنه وکړه، ويل يي: که بي له خپلي عقيدی څخه دفاع کوله او هغه ته بي (خلك) را بلل، نو لمونځ مه پسي کوه[۳].

---

(۱) السنة دخلال تأليف (ق-۸۵).
(۲) السنة دعبد الله بن احمد تأليف ۱۱۹ صفحه.
(۳) السنة ۱/۲۸٤.

## ج- د ایمان په باره کې دامام احمد اقـــوال:

(۱) ابن ابو یعلی له احمـــد نه نقل کوي چـــي وایـــي: «د ایمــان له بهترینــو خصلتــونو نــه یــو دادی چــي (د مسلمـــــان) دوســتي او دښمــني دخـــدای ﷻ لپـــاره وي»[1].

(۲) ابن جوزي له احمد نه نقل کوي چـــي وایـــي: «ایمان زیاتیږي او کمیږي، لکه څنـــگه چــي پـــه حدیـــث کي راغلي دي: «د ایمان په لحاظ له ټولو نـــه کـــامل مؤمن هغه دی چـــي لـــه ټولـــو نـــه ښـــه اخـــلاق ولـــري»[2]...»[3].

---

(۱) طبقـــات الحنابلـــة ۲/۲۷۵ .

(۲) دا حدیث احمد په مسند ۲/۲۵۰، او ابو داود پـــه کتـــاب السـنة، باب الدلیل علـــى زیـــادة الإیمـــان ونقصانـــه ٥/٦٠ ح ٤٦٨٢، او ترمذي په الرضاع، باب ما جـــاء في حـــق المـــرأة علـــى زوجـــها ۳/٤٥٧ ح ۱۱٦۲ کي ټولو له ابو ســـلمة لـــه ابـــو هریـــرة نـــه روایت کړی دی، او ترمذي دهغه په بـــاره کـــي وایـــي: «وهـــذا حـــدیث حسن صحیـــح».

(۳) مناقب الامام احمـــد ۱۷۳، ۱۵۳، ۱٦۸ صفحـــه.

(۳) او خلال له سليمان بن اشعث[(۱)] نه نقل کوي وايي: «ابو عبد الله وايي: لمونځ او زکات او حج او نيك کار دايمان له جملي نه دی، او ګناهونه ايمان کموي او نقصان ورته رسوي»[(۲)].

(٤) عبد الله بن احمد وايي: «له پلار نه مي دهغه چا په باره کي پوښتنه وکړه چي وايي: ايمان قول او عمل دی، زياتيږي او کميږي، خو په هغه کي استثناء[(۳)] روا نه بولي، آيا هغه له مرجئه وو نه دی؟ ويل يي: هيله مند يم چي له مرجئه وو نه به نه وي، له پلار نه مي واوريدل چي وايي: دهغو کسانو (په خلاف) چي استثناء نه کوي دليل

---

(۱) هغه ابو داود سليمان بن اشعث بن اسحاق السجستاني دسنن (ابو داوود) مؤلف دی، ذهبي دهغه په باره کي وايي: «الإمام، الثبت، سيد الحفاظ، په ۲۷۵هـ کال کي وفات شوی دی». تذکرة الحفاظ ۲/۵۹۱، او تاريخ بغداد ۹/۵۵ دي وکتل شي.

(۲) السنة دخلال تأليف (ق-۹٦) .

(۳) استثناء په ايمان کي داده چي ووايي: زه ان شاء الله مؤمن يم. (ژباړونکی)

دادی چي پیغمبر ﷺ دقبرونو خاوندانو (مړو ته دسلام او دوعا په وخت کي) فرمایي: «او موږ هم ان شاء الله تاسو پسي درتلونکي یو» (۱) ...» (۲).

(۵) عبد الله بن احمد وایي: «له پلار نه مي واوریدل چي دمرجئه وو دمذهب په باره کي ځني پوښتنه وشوه، وبي ویل: موږ وایو: ایمان قول او عمل دی، زیاتیږي او کمیږي، کله چي (مؤمن) زنا وکړي او شراب وڅښي نو ایمان یې ناقص شي» (۳).

## د- د صحابه وو په باره کي دامام احمد اقوال:

(۱) د السنة په کتاب کي چي دامام احمد تألیف دی راغلي دي (چي وایي): «د سنتونو نه یو دادی

(۱) دا حدیث مسلم په کتاب الجنائز، باب ما یقال عند دخول القبور والدعاء لأهلها ۶۶۹/۲، له عطاء له عائشي رضي الله عنها نه روایت کړی دی.
(۲) السنة دعبد الله بن احمد تألیف ۳۰۷/۱-۳۰۸ تحقیق شوی چاپ.
(۳) السنة دعبد الله بن احمد تألیف ۳۰۷/۱ .

چې دپیغمبر ﷺ داصحابو نیك صفات او کارونه بیان کړو، او دعیبونو او کوم مخالفتونه چې دهغوی په مینځ کې پیدا شوي دي دهغه له ذکر او یادولو نه ډډه وکړو، او څوك چې دپیغمبر ﷺ داصحابو او یا لدوی ځخه دیوه بد ووایي نو هغه مبتدع، او رافضي، او خبیث، او احمق دی، چې خدای ﷻ به دهغوی نه هیح صدقه (او خیرات) او نیك کار قبول نکړي، بلکه (د صحابه وو ﷺ) سره دوستي لرل سنت دي، او هغوی ته دوعا کول عبادت دی، او په هغوی پسې اقتداء کول د(نجات) وسیله ده، او دهغوی داعمالو او اخلاقو پیروي فضیلت دی»، او بیا یې وویل: «د پیغمبر ﷺ اصحاب له ځلورو (خلیفه ګانو) نه وروسته بهترین دخلګو دي، او هیچ چا ته ندي روا چې ددوی له عیبونو نه څه ذکر کړي، او ددوی دهیڅ یوه بد باید ونه ویل شي او عیبونه یې ذکر نشي، څوك چې دا کار کوي نه بنایي

چي پاچا او حاکم ورته عفو وکړي، بلکه سخته سزا به ورکوي»[۱].

(۲) ابن جوزي و مسدد ته داحمد ليك ذکر کړی، چي په هغه کي راغلي دي: «او دا چي دصحابه وو نه دلسو کسانو: ابو بکر او عمر او عثمان او علي او طلحة او زبير او سعد او سعيد او عبد الرحمن بن عوف او ابو عبيدة بن الجراح لپاره دجنت شاهدي ووايي، او چا ته چي پيغمبر ﷺ دجنت شاهدي ورکړی وي، نو موږ هم ورته دجنت شاهدي ورکوو»[۲].

(۳) عبد الله بن احمد وايي: «له پلار نه مي دامامانو په باره کي پوښتنه وکړه (چي هغه څوك دي)؟، ويل بي: ابو بکر، بيا عمر، بيا عثمان، (او) بيا علي»[۳].

---

(۱) کتاب السنة دامام احمد تأليف ۷۷-۷۸ صفحه.

(۲) مناقب الامام احمد دابن جوزي تأليف ۱۷۰ صفحه، ددار الآفاق الجديدة چاپ .

(۳) السنة ۲۳۵ صفحه.

(٤) او عبد الله بن احمد وايي: «له پلار نه مې دهغو کسانو په باره کې پوښتنه وکړه چې وايي: علي خليفه ندی، ويل يې: دا (ډيره) بده او ناوړه خبره ده»[١].

(٥) ابن جوزي له احمد نه نقل کوي چې وايي: «څوک چې و علي ته خلافت ثابت نکړي، هغه گمراه دی، او په خپل قوم کې دخره په (شان) دی»[٢].

(٦) ابن ابو يعلى له احمد نه نقل کوي چې وايي: «چا چې علي ﷺ دخلافت پر څوکي نه کښيناوه، نو له هغه سره خبري مه کوی، او مه ښځه ورکوی»[٣].

## هـ- امام احمد په دين کې له (بيهوده او بيځايه) خصومت او بحث کولو نه منع کوي:

(١) ابن بطة له ابو بکر مروزي نه نقل کوي وايي: «له

(١) السنة ٢٣٥ صفحه.
(٢) مناقب الام احمد ١٦٣ صفحه، ددار الآفاق چاپ .
(٣) طبقات الحنابلة ١/٤٥ .

ابو عبد الله نه مي واوريدل ويل يې: ځــوك چــي پــه علم كلام ځان مشغوله كړي، كاميابه بـــه نشـــي، او ځوك چي په علـــم كـــلام ځـــان مشـــغوله كـــړي، دجهميه وو له عقائدو نه به په امان كـــي نـــه وي»[١].

(٢) ابن عبد البر په جامع بيان العلـــم وفضلـــه كـــي لـــه احمد نه نقل كوي وايي: «د علم كـــلام خـــاوند بـــه هيڅكله كاميابه نه وي، او هيـــڅ ځـــوك بـــه ونـــه گوری چي په علم كلام مشغول شـــوی وي مـــگر دا چي په زړه كي يې فســـاد وي»[٢].

(٣) هروي له عبد الله بن احمد بن حنبل نـــه نقـــل كـــوي وايي: «پلار مي و عبيد الله بن يحـــيى بـــن خاقـــان[٣]

---

(١) الإبـــانـــة ٥٣٨/٢ .

(٢) جامع يان العلم وفضله ٩٥/٢، ددار الكتب العلميـــة چـــاپ .

(٣) هغه ابو الحسن عبيد الله بن يحيى بن خاقـــان الـــتركي ثم البغـــدادي دی، ذهبي دهغه به باره كي وايي: «الوزير كبـــير ... دمتوكـــل او معتمد سره وزير وو.. او دمتوكل په نزد يې لـــوړ مقـــام درلـــود، او ډير مهربانه او سخي وو». او ابن ابو يعلى وايـــي: «الزمـــوړ لـــه امام (احمد) نه يې بعضي شيان نقل كړي دي، له هغـــه جملـــي نـــه دادی چي وايي: له احمـــد نه مي واوريـــدل چـــي ويـــل يـــي:-

ته وليکل: ته دعلم کلام خاوند نه يـــي، او زمـا پــه نزد علم کلام هيڅ اهميت نلري، خـــو يـــوازي هغــه شي (اهميت لري) چي دخــــداى ﷻ پـــه کتـــاب او دپيغمبر ﷺ په حديث کي راغلی وي، امـــا بيلــه دی نه په نورو شيانو کي بحـــث کـــول ښــه او غـــوره کـــار نـــدی»[1].

(٤) ابن جوزي له موسی بن عبد الله طرسوسي نـــه نقـــل کوي وايي: «له احمد بن حنبـــل نـــه مـــي واوريـــدل چي وايي: له اهل کلام سره مه کښيـــينی، ولـــو کـــه له سنتو او حديثو نه هم دفاع وکـــړي»[2].

(٥) او ابن بطة له ابو الحارث صـــايغ نـــه نقـــل کـــوي وايي: «ځوك چي له علم کلام سره مينه لـــري، نـــو

---

«د پاچاهانو له پيسو نه ځان ساتم، ولو کـــه حرامـــي (هـــم) نـــه وي»، او په ۲٦۳هـــ کال کي وفـــات شـــوی دی».
ســـير اعـــلام النبـــلاء ۹/۱۳، او طبقـــات الحنابلـــة ۱/۲۰٤ دي وکتـــل شـــي.

(۱) ذم الکـــلام (ق-۲۱٦-ب) .

(۲) مناقب الامام احمد ۲۰۵ صفحـــه.

(هغه به يې هيڅكله) لـــه زړه نـــه ونـــه وځـــي، او هيڅـــكله بـــه دعلم كـــلام خـــاوند كاميـــابه ونـــه ويـــنئ»[١].

(٦) او ابن بطة له عبيد الله بن حنبـــل نـــه نقـــل كـــوي وايي: «پلار مي ماته روايت وكړ ويـــي ويـــل: چـــي له ابو عبد الله نه مي واوريدل چـــي ويـــل يـــي: لـــه سنت او حديث نه پـــيروي وكـــړئ ځكـــه چـــي خداى ﷻ به تاسي له هغه نه گټمـــن كـــړي، او لـــه (بيځايه) مجادلي او بحـــث كولـــو نـــه ډډه وكـــړئ، ځكه څوك چي علم كلام خوښوي (هيڅكلـــه بـــه) كاميابه نشي، او څوك چي علم كـــلام خپلـــه دنـــده وگرځوي (نو) انجام به يې بدعت وي، ځكـــه چـــي علم كلام نيك كار تـــه څـــوك نـــه را بـــولي، او زه علم كلام او بي فايدى خصومت او بحث كـــول نـــه خوښـــوم، او (كوښـــښ وكـــړئ) پـــه ســـنتو او

---

(١) الابانة دابن بطة تـــأليف ٢/٥٣٩ .

دصحابه وو په آثارو[1] او دفقه (په احکـــامو) ځــان پوه کړی او دهغه پیروي وکړی چي له هغه نـــه بــه ګټه تر لاسه کړی، او علم کـــلام او بیـــهوده بحث کول پریږدی، موږ (سلف صـــالح) ولیـــدل چـــي دا شیان بي نه پیژندل، او له اهـــل کـــلام نـــه یـــي دده کوله، او دعلم کلام انجام سه انجـــام نـــدی، خـــدای ﷻ دي موږ او تاسي له فتنو او دهلاکـــت داســبابو نه په خپل حفظ او امان کي وســـاتي»[2].

(۷) ابن بطة په الابانة کي له احمد نه نقـــل کـــوي چـــي هغه وایي: «چي حوك ووینی چي علـــم کـــلام ســـره مینه لري، نو له هغه نه ډډه وکـــړه»[3].

دا وه دامام احمـــد رحمـــة الله علیـــه داقوالـــو یـــوه مجموعه چي داصول دین د(مختلفـــو) مســـائلو او دعلـــم کلام په باره کي مو له هغه نه نقل او بیـــان کـــړل.

---

(۱) آثار دصحابه وو اقوالو او اعمالو ته وایـــي. (ژبـــاړونکی)
(۲) الابانة دابن بطة تـــألیف ۲/۵۳۹ .
(۳) الابانة دابن بطة تـــألیف ۲/۵٤۰ .

# خـــاتمـــه

له تیرو خبرو نـــه داســـي معلومـــیږي چـــي دڅلـــورو امامانو اقوال (د عقیدی او اصول دین دمختلفـــو مســـائلو پـــه باره کي) یو دي، او ټول یو نظر لري، پـــه اســـتثناء دیـــوي مسئلي نه چي امام ابو حنیفه په هغه کي له نـــورو نـــه بیـــل نظر لري، چي هغه دایمان مسئله ده، او ویـــل کـــیږي چـــي هغه له دی قول نه رجوع کـــړی ده.

نو دا هغه عقیده ده چي شبایي ټـــول مســـلمانان ســـره راټول (او متحد) کړي او (د دیـــن پـــه اساســـي) مســـائلو کي بي له اختلاف نه وساتي، ځکه دا عقیـــده لـــه قـــرآن او دپیغمبر ﷺ له حدیث نه اخیســـته شـــوی ده، او ډیـــر لـــږ کسان دي چي ددغو امامانو پـــه عقیـــده بـــاندي (پـــوره) خبر وي، او په صحیح توگه په هغـــه وپوهیـــدلای شـــي، ځکه (د ډیرو خلگو په نـــزد) دا خـــبره مشـــهوره ده چـــي گواکي ددی څلورو امامـــانو عقیـــده دتفویـــض[1] عقیـــده

---

(۱) اهل تفویض هغه کسان دي چي دخدای ﷻ دصفـــاتو پـــه بـــاره کي چي کوم آیات او احادیث راغلي دي دهغه پـــه بـــاره کـــي=

ده، دشرعي نصوصو نه (بیله دی چي په ژبه یـــي) قــراءت کري، په بل څه نــــه پوهـــیږي، او ګواکـــي خـــدای ﷻ وحي بیهوده او بي معنی نازله کړیده، پداســـي حـــال کـــي چي خدای ﷻ فرمایي: ﴿كِتَـــابٌ أَنزَلْنَـــاهُ إِلَيْـــكَ مُبَـــارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُوا الأَلْبَـــابِ﴾(۱).

او فرمایي: ﴿وَإِنَّهُ لَتَـــنْزِيلُ رَبِّ الْعَـــالَمِينَ ۞ نَـــزَلَ بِـــهِ الرُّوحُ الأَمِينُ ۞ عَلَى قَلْبِـــكَ لِتَكُـــونَ مِـــنْ الْمُنذِرِيـــنَ ۞ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِـــينٍ﴾(۲).

---

وايي: موږ دهغو په معنی هیڅ نــــه پوهـــیږو او پــــه هغــــه بــــاندي خدای ﷻ ښه پوهیږي. (ژبـــاړونکی)

(۱) دص سورت، ۲۹ آیت، ترجمه: «(کوم شـــی چـــي مـــي وتاتـــه واستاوه هغه) مبارك کتاب دی چي پر تا مي نازل کـــړ، تـــر څـــو دهغه په آیاتونو کي غور او فکـــر وکـــړی، او ترڅـــو د(ســـالم) عقل خاوندان له هغه نه پند او عبرت واخلـــي».

(۲) دالشعراء سورت، ۱۹۲-۱۹۵ آیت، ترجمه: «او بیلـــه شـــکه چـــي دا (قرآن) دمخلوقاتو درب لخوا نــــه نــــازل شــــوی دی، هغــــه روح الامین (جبریل) ستا پر زړه نازل کړی دی تر څـــــو (و خپـــل قـــوم ته) له ویرونکو نه شي، (او هغه مي) په روښـــانه او واضحـــه عـــربي ژبه (در واستوی تر څو ستا قوم پری پـــوه شـــي)».

او فرمايي: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾[(۱)].

نو خدای ﷻ قرآن دهغه دآياتونو دتدبر او پوهيدلو او عبرت اخيستلو لپاره نازل کړی دی، او (همدارنګه يې) دا خبره وکړه چي هغه يې په روښانه (د پوهيدلو وړ آسانه) عربي ژبه نازل کړی دی تر څو خلك يې په معنی (او محتوی) پوه شي، نو پداسي حال کي چي هغه خدای ﷻ دهغه دآياتونو دفهم او تدبر لپاره په روښانه عربي ژبه را استولی وي، نو ښايي چي معنی يې دهغو کسانو لپاره چي ورته را استول شوی دی دهغوی دژبي مطابق دپوهيدلو او فهم وړ وي، او که معنی يې دفهم وړ نه وي، نو دهغه را استول او نازلول به بيهوده او بي فايدی کار وي، (چي خدای ﷻ له داسي کار نه مبرا او منزه دی)، ځکه دکومو کلماتو نازلول چي

(۱) ديوسف سورت، ۲ آيت، ترجمه: «بيله شکه چي موږ هغه عربي قرآن نازل کړ، تر څو په (په معنی يې) پوه شئ».

هغه ديو قوم په نظر بې معنى او مهملـــه كلمـات وي، لـه هغه نه دهيڅ نوع فايدى تصور نشي كيـــدلاى.

نو دا خبره (يعني دتفويض عقيده هغوى تـــه نسـبتول، په حقيقت كي) دصحابـــه وو او تـابعينو او امامـانو پـر عقيدى باندي يو (لوى) جنايت دى، او پـدى خـبره كـي و هغوى ته داسي تهمت متوجه كيږي چـي هغـوى ځـي بري او پاك دي، ځكه هغوى لدى نه چـي دنبـوت عصـر ته ډير نژدى وه، نو دوحي دنصوصـو (قـرآن او حديـث) باندي (له هر چا نه زيات) پوهيدل، بلكه هغـوى لـه هـر چا نه (زيـات) ددى صفـت وړ او مسـتحق دي، ځكـه هغوى دخداى ﷻ په مختلفو انواعو عبـادت كـاوه چـي هغه بې دقرآن او حديث له محتـوى نـه درك كـړي وه، او پدى عقيده وو چي هغه حقيقتاً او شرعاً دخـداى ﷻ لـه جانبه دي، نو كله چي (هغوى) و خپـل خـداى ﷻ تـه دوصول او رسـيدلو لار پيژنـدلى وي، (نـو) څنـگه بـه ممكنه وي چي خپله دهغه (ذات) بې دكمـال پـه صفـاتو نه وي پيژندلى، او نه بې دهغه نصوصـو معـنى درك كـړى

وي چي دهغه په واسطه خدای ﷻ خپل ځان و بندګانو ته ورپیژندلی دی.

نو ددي خبري نتیجه داده چي ددي څلورو امامانو عقیده (په ټوله معنی) صحیح عقیده ده چي له هغه پاك او ستره منبع نه سرچشمه اخلي، چي هغه قرآن او حدیث دی او پر هغه باندي هیڅ نوع دتأویل او تعطیل او تشبیه او تمثیل[1] غبار نشته، ځکه چي اهل تعطیل او تشبیه دخدای ﷻ له صفاتو نه بیله هغه فهم نه چي دبندګانو له صفاتو نه یې لري، په بل څه نه پوهیږي، او دا کار دهغه فطرت مخالف دی چي خدای ﷻ خپل بندګان پر هغه پیدا کړي دي، او هغه (فطرت) عبارت لدی (قاعدی) نه دی: چي دهغه (یعني خدای ﷻ)

(۱) تأویل دی ته وایي چي له لفظ نه ظاهري او راجحه معنی وانه خیستل شي، او بله احتمالي معنی ځنې مراد شي چي دهغې لپاره څه دلیل موجودنوي.
او تعطیل دخدای ﷻ دصفاتو نفي کولو ته وایي.
او تشبیه او تمثیل دخدای ﷻ صفات دمخلوقاتو له صفاتو سره مشابهت ورکولو ته وایي. (ژباړونکی)

دمثل په شان بل شی نشته، نه يې په ذات کـــې او نـــه يـــې په صفاتو کې او نه يې په افعالو کـــې.

له خدای ﷻ نه غوارم چـــې دا کتـــاب دمســـلمانانو لپاره داستفادی وړ وګرځوي، او هغوی پـــر يـــوه عقيـــده، چې دقرآن او حديث عقيده ده، او دپيغمـــبر ﷺ دســـنتو او هداياتو پر پيروي باندې (يو ځای) راتـــول کـــړي.

والله من وراء القصد وهـــو حســـبنا ونعـــم الوکيـــل، وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العـــالمين، وصلـــى الله علـــى نبينـــا محمـــد.

# د موضوعات فهرست

موضوع صفحه

سریزه ........................................................ ۱

اول مبحث: څلور واړه امامان (ابو حنیفه، شافعي، مالك، او احمـــد) دایمان دمسئلي نه پرته داصول دین دنورو ټولو مسائلو په هکلـــه یـــو نظر لري........................................................ ٤

دوهم مبحث: دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه عقیده.............. ۱۰

أ- دتوحید په باره کي دامام ابو حنیفه اقوال .................. ۱۰

ب- دقضاء او قدر په باره کي دامام ابو حنیفه اقوال ............۲۳

ج- دایمان پ باره کي دامام ابو حنیفه اقوال..................۲۹

د- دصحابه وو په باره کي دامام ابو حنیفه اقوال................ ۳۱

هـــ- ابو حنیفه په دین کي له بیځایه خصومت او بحث کولو نـــه منع کوي ........................................................۳۳

دریم مبحث: دامام مالك رحمة الله علیه عقیده ......................۳۹

أ- دتوحيد په باره کي دامام مالك اقوال.......................... ۳۹

ب- دقضاء او قدر په باره کي دامام مالك اقوال ........................ ٤٧

ج- دايمان په باره کي دامام مالك اقوال ........................ ٥١

د- دصحابه وو په باره کي دامام مالك اقوال........................ ٥٣

هـ- امام مالك په دين کي له بيځايه خصومت او بحث کولو نه منع کوي ........................................ ٥٧

څلورم مبحث: دامام شافعي رحمة الله عليه عقيده ........................ ٦٤

أ- دتوحيد په باره کي دامام شافعي اقوال ........................ ٦٤

ب- دقضاء او قدر په باره کي دامام شافعي اقوال................ ٨٣

ج- دايمان په باره کي دامام شافعي اقوال........................ ٨٦

د- دصحابه وو په باره کي دامام شافعي اقوال........................ ١٠٤

هـ- امام شافعي په دين کي له بيهوده او بيځايه خصومت او بحث کولو نه منع کوي........................................ ١٠٧

پنځم مبحث: دامام احمد رحمة الله عليه عقيده ........................ ١١٠

أ- دتوحید په باره کي دامام احمد اقوال .......................... ۱۱۰

ب- دقضاء او قدر په باره کي دامام احمد اقوال .................۱۱٦

ج- دایمان په باره کي دامام احمد اقوال...........................۱۱۹

د- دصحابه وو په باره کي دامام احمد اقوال........................۱۲۱

هـــ- امام احمد په دین کي له بیهوده او بیځایه خصومت او بحث

کولو نه منع کوي ............................................۱۲٤

خاتمه...............................................................۱۲۹

دموضوعاتو فهرست ................................................۱۳۵

## په کتاب کې دلهجي په اختلاف سره دیو معنی لرونکو کلماتو لست

| کلمه | معنی | کلمه | معنی |
|---|---|---|---|
| اثباتوي | ثابتوي | بوټونه | بوټان، ګوټونه |
| ادراک | پوهه، فهم | بوخت والی | مشغولتیا |
| اړولي | ګرځولي | بیل | جدا، جلا |
| اصحاب | صحابه، اصحابان | بیهوده | بې فائدي |
| اطاعت | فرمانبرداري، تابعداري | پدي ډوَل | پدا شان، دا رنګي |
| اطلاق کیږي | ویل کیږي | پدې توګه | پدې ډوَل |
| اعتقاد | عقیده،، ایمان، باور | پراختیا | وسعت، پراخوالی |
| افراد | یو یو کس | پرانیستل | خلاصول، بر سیره کول |
| افکار | نظریات، سوچونه | پرته | علاوه |
| اقوال | نظریات، خبري | پښې | ښپې |
| اندامونه | اعضاء | پلټنه | ګرځیدل، کتل |
| اهل کلام | منطقیان | پوست | څرمن، پوټکی |
| بحث | خبري کول | پوښتنه | تپوس |
| بد رنګه | بد شکله | پوه | پوی |
| برخه | حصه، قسمت | پیروي | متابعت |
| بندي | په جیل کې | ترک کړي | پریږدي |
| بهتره | غوره، ښه | تعبیر | بیان |

| کلمه | معنی | کلمه | معنی |
|---|---|---|---|
| تعهد | وعده | ځیرول | غوځول، پریکول، شکول |
| تغیر | بدلون | ځیري | غوځ، پریکړی، شکیدلی |
| ټینګ | کلک، محکم، مضبوط | خوندي | محفوظ |
| تَنْدَی | ټنده، وُچوَلی | خوندي | محفوظ |
| جماع | له ښځي سره نږدیکت کول | دباندي | بیرون، بهر |
| جنیات | پیریان | درک کول | پوهیدل |
| جواب | ځواب | درلود | لرلو |
| جواب ورکول | ځواب ورکول | درواغ | دروغ |
| حتمي | لازمي | درواغجن | دروغجن، دروغزن |
| حراست | حفاظت | دفاع کول | حمایت کول |
| ځني | ترینه | دنده | وظیفه |
| حیض | دښځي میاشتنی مریضي یا عادت | دوږخ | جهنم |
| خارج | بیرون | دوزخ | جهنم |
| خشوع | دزړه حضور او خاکساري | ذهن | سوچ |

| معنی | کلمه | معنی | کلمه |
|---|---|---|---|
| زر | ژر | بیانول | څرګندول |
| مبرا، پاک | سالم | لیرې شه | ډډه وکړه |
| پټه خبره، راز | سِر | میدانونه | ډګرونه |
| سرچینه | سرچشمه | شانتې، مثل، رنګ | ډَوَل |
| تپوس | سوال | غږ | ږغ |
| ګواه، ګواهي | شاهد، شاهدي | رانه | را څخه |
| کیدای شي، ممکن | شاید | تردیدَوي | رَدَوي |
| کوزیږي | ښکته کیږي | مرضي، خوښه | رضایت |
| کوزیدل | ښکته کیدل | رڼا | روښنایي |
| کنځا، بد رد | ښکنځل | پوهه، تعلیم | زده کړه |
| ګڼل کیږي، حسابول کیږي | شمیرل کیږي | ځنګنونه، ټکې، ټوټکې | زنګنونه |
| څیز | شی | پیدا کیدل | زیږیدل |
| څیزونه | شیان | زیاتوالي مومي، زیادت کوي | زیاتیږي |
| پاڼې | صفحات | نقصان | زیان |
| حالتونه | صورتونه | مترجم | ژباړن |
| زور، زیاتی | ظلم | ساتل، حفاظت کول | ژغورل |

| کلمه | معنی | کلمه | معنی |
|---|---|---|---|
| عدم | دیو شي دنشتوالي حالت او یا دموجودیت نه مخکي حالت | کائنات | مخلوقات |
| غبار | دوړي | کافي | پوره |
| غضب | غصه، قهر | کامیاب | بریالی، خوش نصیبه، غالب |
| غنیمت | هغه څه چي په جنګ کي له کفارو نه واخیستل شي | کبیره ګناه | لویه ګناه |
| غورځول | ارتول، اچول | کښته | ښکته، کوز، لاندي |
| فریضه | فرض، مسئولیت، لازمي کار | کښیناستل | کیناستل |
| فضیلت | بهتري، ښه والی، بزرګي | کښیني | کیني |
| فطرت | اصلي خلقت، دین | کښینم | کینم |
| فنا | له مینځه تګ، فاني کیدل | ګټمن | فایده من |
| قسم یادول | لوړه کول | ګمراه | بیلاري |
| قلبي | دزړه | ګمراه کوي | بیلاري کوي |

| کلمه | معنی | کلمه | معنی |
|---|---|---|---|
| ګټل | شمېرل | محاسبه | حساب کتاب کول |
| کمېدل | نقصان کول | محروم | بې برخې |
| کمېږي | نقصان کوي، کموالی مومي | معتقد يم | عقیده لرم |
| کیفیت | څرنګوالی | ملګری | دوست |
| لازمېږي | لازمه ده | مُلَوَّث | ککړ، پلیت، ناولی، لړلی |
| لاس ته راوړل | حاصولول | منل | قبلول |
| لټول | پیدا کول، ګرځېدل | مهمله | بې معنی |
| لدې جهته | پدې وجه | موقف | دریځ |
| لمونځ | مونځ | مېړه | خاوند |
| له جانبه | له طرفه | نا اشنا | نا معلومه |
| لوړ | اوچت | نافرماني | خلاف ورزي |
| لوړېدل | اوچتېدل | ناولتیا | ککړتیا، پلیتوالی |
| لیري | لِري | نښې نښانې | علامې، علائم |
| لیک | خط | نه ښایي | لائقه نده |
| ماهر | تکړه، پوه | نیمګړتیا | نقصان، خامي، عیب |
| مبتلا | اخته، راایسار، ګیر | هرومرو | ضرور، حتماً |
| مجهوله | نامعلومه | هکله | حقله |

| کلمه | معنی | کلمه | معنی |
| --- | --- | --- | --- |
| هماغسې | هماغه شان | وفات | مرګ |
| هیله مند | ارزو مند | وکړ | وکړو، وکی |
| وړ | لائق | وکړی | وکې |
| واسطه | وسیله | ولو که | اګر که |
| ورپه برخ کړ | ورکړو | یادَوَنَه کول | ذکر کول |
| ورکړي | ورکې | یو ځای | جوخت |
| وضاحت | روښانوالی | | |

مطابع الناشر العربي
AL-NASHER AL-ARABI P. PRESS

# اعتقاد الأئمة الأربعة

## (أبو حنيفة والشافعي ومالك وأحمد)

- رحمهم الله -


تأليف

د. محمد بن عبد الرحمن الخميس



وكالة المطبوعات والبحث العلمي

وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد

المملكة العربية السعودية

١٤٣٥ هـ